# همبستګۍ غږ

د افغانستان د همبستګۍ ګوند خپرونه

۲
پښتو
وری ۱۳۹۴

## ولي خان دروازی
د افغانستان د خپلواکۍ
معرفي کوونکی

۳۸ پانه



# همبستګي غږ

د امتیاز خاوند: د افغانستان د همبستګۍ ګوند

مسئول مدیر: سیدمحمود همرزم

ګرځنده: ۰۰۹۳-۷۷-۳۷۶۱۷۷۷

د جواز شمیره: ۸۷

## پدې ګڼه کې:

له امریکا او لویدیځ سره
د اسلامي بنسټپالۍ مکیز او نخرې........................ ۱
کوباني؛ د مبارزې، مقاومت او حماسې درس! ........................۱۶
«ټاکنیزې حماسې» یو عجیبه شی وزیراوه! ........................۱۷
په ننګرهار ولایت کې
د همبستګۍ ګوند د فعالینو غونډه ........................۲۲
پاڅون او یووالي سره کولای شو،
نیواکګرو او د دوی پر چوپړانو بریالي شو!........................۲۴
د کوبانی له میړني مقاومت ښځه ملاتړ وکړو!........................۲۸
د خپل ناهیلي ځوی ښخه د پلار ګڼلي پلوي........................۳۳
ولی خان دروازی د افغانستان د خپلواکۍ معرفی کوونکی......۳۸
پر کنړ د پاکستان د دولت یرغل،
د امریکا شیطاني دسیسه ده! ........................۴۶
امریکایی تازیانو یو ځل بیـا باډیلیان د ویر په ټغر کینول ......۴۹

پښتو ګڼه ۲، وری ۱۳۹۴ - اپریل ۲۰۱۵



لیکونکی: رابرت دریفوس | ژباړونکی: کاوه

# له امریکا او لویدیځ سره د اسلامي بنسټپالۍ مکیز او نخرې



رابرت دریفوس د «شیطاني لوبه: څرنګه متحده ایالاتو د اسلامي بنسټپالۍ له پښنو مزی پرانیست» ارزښتناک کتاب لیکونکي، د امریکا، سی.آی.ای او لویدیځ او د اخوان‌المسلمین بنسټپال خوځښت په اړه یی پراخه څیړنی کړی او د ډیرو لاسوندونو او شاهدانو په بربنډولو سره یی ښکاره وښودل چی څرنګه انګلستان او امریکا د پان‌اسلامی خوځښت له ناپوه اخوانیانو، طالبانو، جهادیانو، القاعده او نورو څخه منځ ته راوړ او وی روزل ترڅو پرمخ‌تللي غورځنګونه پری وځپي او تر نن ورځی له دغو ارتجاعي او ملی ضد ځواکونو څخه نه یوازی په افغانستان کی بلکه په ټوله نړۍ کی د لیوني سپي په څیر ګټه اخلي.

لاندنۍ لیکنه د «سره جګړه، سپیڅلی جګړه‌مار» تر نوم لاندې دریفوس لیکلی په «مادر جونز» خپرونه کې (د ۲۰۰۶ کال فبروري میاشت) خپره شوه، د سعید رمضان د چوپړتیا یوې برخې ته چې، د اخوان‌المسلمین بنسټ ایښودونکی او د سی.آی.ای څارګر و ځانګړې شوې چې مونږ د هغې ژباړه او لنډیز دلته خپروو.

لیکونکی: رابرت دریفوس | ژباړونکی: کاوه عزم

مادر جونز، د ۲۰۰۶ کال فبروري میاشت

## سره جګړه، سپیڅلی جګړه‌مار

۱۹۵۳ منی، د امریکا د جمهور رییس دفتر د ایزنهاور او له منځنی ختیځ څخه د یو ځوان جګړه‌مار د خبرو اترو ځای وو. په تور او سپین انځور کې چې د هغې پیښې ښکارندوی دی، ۶۲ کلن ایزنهاور ټاس سره ښکاري، خړې جامې یې پر غاړه دي او ولاړ قد سره، څنګلې یې کږې او موټې یې تړلې دي داسې ښکاري چې په کوم ځواکمن ځای فشار راوړي.



**۱۹۵۳ :** *سعید رمضان (له ښي خوا دوم کس) د حسن‌البنا ځوم چې په واقعیت کې د اخوان المسلمین د بهرنیو چارو وزیر د امریکا له جمهور رییس ایزنهاور سره په سپینه ماڼۍ کې. بربنډ شوي لاسوندونه څرګندوي چې سعید رمضان د سی.آی.ای له خوا ټاکل شوی کس و.*

د هغه کیڼې خواته یو مصري زیتوني رنګه څیره ښکاري چې توري جامې پرغاړې دي او ږیره او بریت یې په منظمه توګه خیرولې دي چې یوه کاغذي کڅوړه یې پرلاس کې ده او جمهور رییس ته یې پام ده. هغه یواځې ۲۷ کلن دی، او په ورته وخت کې د زوګ او ګرکیچ څخه ډکې اسلامي نړۍ کې لس کلنه تجربه لرې، له مصر څخه تر عمان او کراچې پورې یې ټول لیدلي دي. هغه په دې سفر کې له هند، سوریه، یمن، اردن، ترکیه او سعودي عربستان څخه را لیږدول شوو او څیړونکو او ملایانو او فعالانو ته چې ځینې یې شال او ملای جامې او

ځینی یی پتلون او کرتی په تن لری لاربښونه کوی.

له جمهور رییس سره د هغی ورځی کتونکی سعید رمضان وو، چی د اسلامی بنسټپالی پټ سازمان چی د اخوان‌المسلمین په نوم یادیږی له



*له ښي کیڼ خوا ته: میلتن بیردن (سی.آی.ای مسوول په اسلام آباد کی)، ریچارد کر (د سی.آی.ای. مرستیال)، روبرت اوکلی (په اسلام‌آباد کی د امریکا سفیر)، جنرال حمید ګل (د آی.اس.آی. رییس)، ویلیام ویبستر (د سی.آی.ای. رییس)، ربانی، ګلبدین.*

*پورتنی انځور چی په کال **۱۹۸۸** کی د ګلبدین او ربانی پټه ناسته د سی.آی.ای او آی.اس.آی له لوړپوړو چارواکو سره ښکاره کوی د «اصلی دښمن» تر نامه لاندی کتاب چی میلتن بیردن لیکلی اخیستل شوی. میلتن له **۱۹۸۶** څخه تر **۱۹۸۹** پوری په اسیا کی د سی.آی.ای د مرکز له مهمو غړو څخه و چی په اسلام‌آباد کی شتون لری. هغه له افغانی بنسټپالو سره د امریکا مرستو ته سمون ورکاوه.*

*د افغانستان بنسټپاله ګوندونه او له هغی ډلی څخه د ګلبدین اسلامی ګوند او د ربانی اسلامی جمعیت د سړی جګړی پرمهال د سی.آی.ای له مهمو لاسپوڅو څخه ګڼل کیدل چی د امریکایی مرستو ډیری برخه یی لاسته رواړله. دوی له سی.آی.ای او آی.اس.آی سره ژوري اړیکی لرلی او دهغوی په امر یی دنده ترسره کوله. دغو خاینو او ملی ضد ګوندونو تر نن ورځې خپلی اړیکی له بهرنیو ښارکرو سره ساتلي دي.*

مهمو چارواکو او ویاندو څخه دی. لکه څرنګه چی ګوری هغه د جمهور رییس تر څنګ د یو احترام وړ میلمه او یا د یو هیواد د رییس په توګه ولاړ دی نه د یو لاسپوڅی سیاستمدار په توګه.

په رسمی توګه، سعید رمضان امریکا ته د پرنسټون پوهنتون کنفرانس کی چی د اسلامی کلتور په هکله وګډون لپاره راغلی وو، هغه کنفرانس

چې د کانګرس کتابخانې له لوري تمويل شوی وو. ددې کنفرانس لګښت پرته د ګډون‌والو د تګ او راتګ له لګښت څخه تر ۲۵۰۰۰ ډالرو پورې رسيده چې د نړۍوالې مالوماتي اداری لخوا ترتيبيده، دا اداره د بهرنيو چارو وزارت يوه شعبه ده چې د امريکا څارګري اداری په بنسټونو کې واک لري. نوري مرستې هم د امريکا هوايي شرکت او «آرمکو»، په سعودي عربستان کې د تيلو لويو شرکتونو لخوا شوې وې. د نورو ګډون‌کونکو په څير رمضان، د يو متعصب وياند په توګه نه بلکه د يو څېړونکي په څير چې ټول لګښت يې ورکول کيده، پدې کنفرانس کې ګډون درلود.



*۱۹۸۸: ګلبدين او مولوی خالص په پاکستان کې د امريکا سفير ريچاردکر سره. ګلبدين د سړې جګړې پر مهال د سی.آی.ای له نازولو چوپړانو څخه وو چې ددغه سازمان له ۶۰۰ ميليونو ډالرو ډېری مرستې يې هغه پورې تړلې وې چې د بنسټپالو ډلو په منځ کې لومړی مقام درلود او وروسته جمعيت اسلامي او اتحاد اسلامي په دويم او دريمه درجه کې د سی.آی.ای له چټلي‌خوړونکو څخه وو.*

هغه لاسوند چې په دې ورستيو کې د اطلاعاتو نړيوالې اداری (IIA) لخوا د «د پټو امنيتي اطلاعاتو لاسوند» تر نوم لاندې خپور شو، ددې پروژې ټولې موخې څرګندوي: «اصلي موخه دا وه ترڅو هغه خلک او شخصيتونه چې د مسلمانانو فکرونو باندې په مختلفو ځانګو کې لکه ښونه، ساينس، قانون او فلسفه او داسې نورو ځانګو کې اغيز لري او هغوي ته لوری ورکوی راوبلل شي. ددې برنامې د نورو پټو موخو ترڅنګ يوه موخه دا وه چې اسلامي بهير ددغو کسانو په مرسته بل

لوری ته بوځی.» په ورته وخت کی امریکا هڅه کوله ترڅو منځنی ختیځ ته لار وموميږ. امریکایی ختیځ پیژندونکي او څیړونکي پدی بوخت وو چی څرنګه د سیاسی اسلام نه په ګټه اخیستلو په سیمه کی د امریکا اغیز زیات او پراخ کړی.

یو پټ سازمان ته چی پوځي څانګه هم لری چی د ډیرو وژنو او تاوتریخوالي مسوولیت هم پر غاړه لری، د یو مخکی تللی او د اسلام د ژوندي کولو سازمان نوم ورکول ډیره عجیبه خبره ده. ولی دا لید د امریکا له سیاست سره پوره سمون لـری ځکه هـر هغه څـوک چـی د کمونیزم پر ضد وی هغه د امریکا نږدی ملګری دی. هر وخت می چی د سیا او بهرنیو چارو وزارت چارواکو سره چی په دویمه نړیواله جګړه او د شوروی د نسکوریدو پر مهال یی په منځنی ختیځ کی په دنده بوخت وو، مرکه کوله، هغوی ټولو په یوه خوله ویل چی د شوروی او د خلکو پر منځ کی مارکسیزم ایډیولوژی تللو په مخ کی یوازی یو خنډ وو هغه هم اسلام. تلکات سیلیه وای: «مونږ د کمونیزم پر وړاندی اسلام د یو ژور خنډ په توګه درلود.» یو امریکایی دپلومات چی له ۱۹۵۰ کال څخه یی وړاندی په اردن کی دنده لرله او له سعید رمضان سره یی هم کتلي و وای: «مونږ هغه د یو منځدریځه او مثبت ځواک په توګه پیژانده.» او په پای کی ادس ایرمن ایلتز یو امریکایی پخوانی دپلومات چی د ۱۹۴۰ کلونو په شاوخوا کی سعودی عربستان کی اوسیده وای، امریکایی چارواکو په قاهره کی د رمضان له مرستیالانو او د اخوان المسلمین له رهبر، حسن البنا سره، چی د امریکا له سیاستونو سره همغږي وو منظمی کتنی درلودی.

د جمهور رییس په دفتر کی د رمضان له لیدنی څلور لسیزی

***ویلیام کیسی، د سی.آی.ای مشـر د منځنی آسیا هیوادونو د بی ثباته کولو لپاره د تبلیغاتی توکو استولو پریکړه وکـړه. سـی.آی.ای په ازبکستان کـی د اسلام خپرولو لپاره، د یو ازبک په مرسته چی په آلمان کی یی ژوند کاوه قرانکریم وژباړه او د هغه ۵۰۰۰ جلده یی د آی.ایــس.آی او افغانی بنسټپالو ډلو په مرسته په ازبکستان کی خپاره کړل.***

*د «ارواحو جګړه» کتاب،
استیو کول*

وروسته، اخوان‌المسلمین په یو ځواکمن سازمان بدل شو چې له سعودي عربستان نه نیولې تر سوریه او له جنیوا نه تر لاهوره یې څو نسله اسلامپاله ډلې روزلې او تمویل کړې دي او رمضان چې خپله د دې نړیوال مسوول وو، په یوه پیژندل شوې څېره او د سیاسي اسلام له تیوریسنانو څخه شمېرل کېږي. د پاکستان سخت‌دریځه اسلامپاله ډلې، چې په افغانستان کې د طالبانو منځ ته راوړلو کې هم نقش درلود له ۱۹۹۰ کال راپدیخوا د القاعده ملاتړ کوې او د خپل سازمان په جوړښت کې د اخوان‌المسلمین له مډل نه کار اخلي. د ایران آخندي رژیم هم د اسلام فدایانو په نوم د یوې پټې ټولنې له خیټې را بهر شوی چې د اخوان‌المسلمین تر اغیز لاندې دی، چې په ۱۹۵۰ کال کې مشري یې روح الله خمیني پر غاړه لرله. د فلسطین ترهګرې ډلې حماس هم په لومړیو کې د اخوان‌المسلمین د څانګې تر نوم لاندې سر را بهر کړ. د مصر بنسټپالو چې د اسلامي جهاد او ملګرو ډلو یې په ۱۹۸۱ کې د مصر جمهور رییس انور سادات وواژه او په ۱۹۹۰ کال کې د اسامه القاعده له ډلې سره یوځای شول هم په ۱۹۷۰ کال د اخوان‌المسلمین په روزنه کې فعاله ونډه درلوده. ددې ترڅنګ هغو افغاني مشرانو چې د روسانو پر ضد جهاد چې د سي.آی.ای په مرسته په لار اچول شوی و، مشري په غاړه لرله او بن لادن چې د «افغاني عربی» شبکه چې د القاعده پیل وو، هم د اخوان‌المسلمین غړي وو.

لاپه به نه وي که ووایو چې رمضان د فکر له لحاظ نه د اسامه پلار دی. ولې رمضان، اخوان‌المسلمین او نور اسلامپاله ملاتړي به یې نه وای توانیدلی چې د القاعده په شان لوی سازمان یې منځ ته راوړی وای، مګر داچې د سړې جګړې پر مهال د امریکا ملاتړی او د واشنګټن پټې او ښکاره مرستې ورسره نه وای شوې، څرنګه چې په لاسوندونو کې یاد شوي رمضان هم د سي.آی.ای لپاره یو تاثیرلرونکی کس و او د هغوی لخوا ګمارل شوی وو.

سعید رمضان په ۱۹۲۶ کال کې په شیبین الکوم کې زیږیدلی، هغه کلي چې د قاهرې د نیل سیند څخه ۴۰ مایله واټن لري. هغه ۱۴ کلن و چې له حسن‌البنا سره یې اړیکه ونیوله او د هغه له خوځښت سره یو ځای شو؛ شپږ کاله وروسته، کله چې د قاهرې له پوهنتون څخه فارغ شو، د

حسن‌البناء د منشي په توګه یې دنده ترسره کړه او د هغه د باور سړی وو. یو کال وروسته رمضان د «الشهاب» اونیزې چې اخوان‌المسلمین پورې تړې وه د چلونکي په توګه و ټاکل شو او په همدغه وخت کې یې د بناء له لور سره واده وکړ، دغه کار د اخوان‌المسلمین په مشرتابه کې هغه ته ځانګړی ځای پیدا کړ.

رمضان د حسن‌البناء د سفیر په توګه تل هری خواته سفر کاوه ترڅو په نړیواله سطح د هغه اړیکی ټینګې کړي. په ۱۹۴۵ کی، هغه دارالسلام ته چې د بریتانیا تر واک لاندی و سفر وکړ، په کوم ځای کی چې د عربو او یهودیانو د جګړې توفانی سیلۍ چلیدله.

په ۱۹۵۰ کال کی، رمضان په یو ګرځنده مبلغ بدل شو، د اسلامی خوځښت ایلمرګانتری په خیر. په ۱۹۴۹ او ۱۹۵۱ کلونو کی هغه پاکستان ته سفر وکړ ترڅو په کراچی کی د نړۍ مسلمانانو په کنګره کی ګډون وکړی – لومړنی کس و چې د نړۍ اسلامي خوځښتونه یې یوبل سره نږدی کړل – د همدغو هڅو پایله وه چې هغه ددغه سازمان د مشر په توګه وټاکل شو. پاکستان لومړنی هیواد و چې د اسلامی اصولو پر اساس جوړ شوی و، او د بنسټپاله نظریه ورکونکو په مرکز بدل شو او د سعید رمضان دویم کور شمیرل کیده. د پاکستان دولت خپله ملی راډیو کی هغه ته یوه برنامه ځانګړی کړه او لومړي وزیر، لیاقت علی خان د رمضان پر کتاب سریزه ولیکله.

په پاکستان کی، رمضان له یو ځوان اسلامپاله سره چې مودودی نومیده کار کاوه، هغه وروسته اخوان‌المسلمین ته ورته سازمان د جماعت اسلامی په نوم منځ ته راوړ. هغه د فلسطین جګړی ته سخت‌دریځه مسلمان ځوانان استول، له همدی کبله رمضان مودودی سره مرسته کوله ترڅو له متعصبو او احساساتی مسلمانو زده کونکو څخه یو پراخ او ټینګ سازمان جوړ کړی ترڅو وکولای شی په پاکستان کی د کینې خوځښت مخه ونیسی. ددی حرکت نوم لنډیز په اردو ژبه کی IJT دی چې د فاشیست موسولینی نه یې رنګ اخیستی دی. دغې ډلې خپلې وسله‌والی کړنې له پوهنتون څخه د کین‌اړخو محصلانو پر ضد پیل کړې. څرنګه چې سید ولی رضانصر په دی اړه د نظر خاوند ددی حرکت په اړه لیکی؛ «دغه اخوډب د هګیو له ویشتلو پیل شو او

وروسته يې کلکو نښتو ته لار هواره کړه.» په همدې ترتيب سره ډلې د يو سخت‌دريځه نسل په روزلو پيل وکړ چې وروسته په ۱۹۷۷ کې د متعصب ديکتاتور تر مشرۍ لاندې، ضياالحق په پاکستان کې واک ترلاسه کړ، هغوی د افغانستان له جهاد څخه ملاتړ وکړ او د القاعده لپاره يې پټن‌ځايونه منځ ته راوړل.

هغه فکر چې دوی يې له لندن او واشنګټن سره نږدې کول دا و چې اخوان‌المسلمين ناصر د يو کرغيړن او سيکولار کس په توګه پيژانده، هغه له اسلام سره خدای‌په اماني کړې وه او له کمونيزم سره مرستې ته يې علاقه لرله. په کال ۱۹۵۴ کې د اخوان‌المسلمين يو غړي د مصر جمهور رييس د وژلو هڅه وکړه له همدې کبله ناصر ددغه سازمان ځپلو لپاره ګوتلي ګامونه پورته کړل، همدا وه چې ددې ډلې ډير شمير مشران يې ونيول او بنديان يې کړل.

***احمدشاه مسعود هره مياشت له سي.آی.ای نه ۲۰۰۰۰۰ دالر لاس ته راوړل چې په اسلام‌آباد کې د سي.آی.ای دفتر لخوا ورکول کيدل. ګرې شرون د افغانستان په چارو کې د سيا پخوانی او باتجربه کارکونکي له مسعود سره اړيکې لرلې او د پيسو د ليږد مسووليت يې پر غاړه لره.***

*د «ارواحو جګړه» کتاب، استيو کول*

رمضان چې ددې ډلې د بهرنيو چارو مسووليت پر غاړه لره په سوريه کې د ناصري ضد تبليغاتو کې بوخت وو. ناصر هغه له مصري تابعيت نه بې‌برخې کړ، ولې د هغه ليرې والی ډير دوام و نه موند.

يو وار بيا دا سوړ جنګ و چې رمضان او د هغه خوځښت يې خوندي وساته. پدې وخت کې هغه په آلمان کې اوسيده، د اسلامي بنسټپالې دغه يار دا ځل د نازيانو په ځمکه پښه کيښوده. کله چې مصر او سوريې له ختيځ آلمان سره خپلې ديپلوماتيکې اړيکې ټينګې کړې، نو لويديځ آلمان ددغو دواړو هيوادنو مخالفينو ته د کار زمينه چمتو کړه، چې پدې اساس اخوان‌المسلمين هم پدې ډله کې شامل و. رمضان د لويديځ آلمان په مرسته د اعدام له حکمه چې په مصر کې ورته اورول شوی وو وتښتيده. هغه څه موده وروسته جنيوا ته چې د نړيوال سياست او دسيسو مرکز و لاړ. هلته يې په کال ۱۹۶۱ کې، د جنيوا اسلامي مرکز

پرانیست، هغه بنسټ وروسته په اروپا کې د اخوان‌المسلمین اصلي هډه ګڼل کیده.

رمضان چې د ناصر پر وړاندې د واشنګټن ملاتړی و، د ۱۹۵۰ او ۱۹۶۰ کلونو ترمنځ یې د امریکا له مهمو وړاندیزونو ډیره ګټه پورته کړه. امریکا په منځني ختیځ کې د ناسیونالیزم پر وړاندې جګړه کې، د دویمې نړیوالې جګړې وروسته غټه تیروتنه ترسره کړه: امریکا هڅه وکړه ترڅو د عربستان ارتجاعي پاچاهۍ سره هم‌نظره شي. ۱۹۵۰ کال و چې امریکا عربستان وهڅوه ترڅو له بنې‌اړخو ټولنو او بنسټونو یو اسلامي سازمان منځ ته راوړي، هماغه وو چې ددې پریکړې پر سبا د القاعده سازمان سر راپورته کړ. دا هغه اسلامي مرکز وو چې رمضان د هغه تیره ایښې وه او د عربستان له پراخو مرستو برخمن وو.

ډیر ژر دا ځای د ټولې نړۍ د اسلامپاله ډلو د کړنو او کړنلارې جوړولو په مرکز بدل شو؛ د اسلامي ادبیاتو خپرولو کړنې هم ترسره کولې، موخه یې د اخوان‌المسلمین وده او خپرول وو د سعید رمضان ځوی هاني رمضان په وینا، «ددې مرکز جوړیدلو موخه زما د پلار د هیلو پوره کیدل دي ترڅو وکولای شي د حسن‌البنا فکر خلکو ته درس ورکړي.» د هغه په وینا «په دې ځای کې له ټولې عربي نړۍ څخه زده‌کونکی راټولیدل او اسلامي زده‌کړې یې کولې.»د فرانسوي خبریال، ریچارد لوبې وير په وینا، چې د اخوان‌المسلمین او ترهګرۍ اړیکو په اړه لیکنې لري وای، سعید رمضان له جنیوا څخه د نړیوال اخوان‌المسلمین په خپرولو کې ګټه پورته کړه؛ هغوي آن وکولای شو چې ځان ته په سویس کې د التقوا په نوم بانک هم جوړ کړي چې نوري څانګې یې د ایتالیا په کمپیون او باهاما کې دي. د ۲۰۰۱ کال د سپتامبر د ۱۱ نیټې پیښې وروسته امریکا د التقوا بانک ته د هغو بانکونو په لیست کې ځای ورکړ کومو چې له ترهګرو سره مرسته کړې ده.

د رمضان د ژوند پدې مهال کې بل مهمه پوښتنه داده: چې آیا په کال ۱۹۵۳ کې کله چې هغه امریکا ته سفر کړی وو د سي.آی.ای څارګر وو؟ د هغه کورنۍ دا موضوع رد کوي، ولې هغه لاسوندونو چې د سویس له ملي آرشیف او د جنیوا له «لې تیمپس» ورځپاڼې لاس ته راغلي دا په ډاګه کوي چې په کال ۱۹۶۰ کې سویس چارواکو «د نورو

مسایلو ترځنګ هغه د بریتانیا او امریکا څارګر په توګه پیژانده.» ۲۰۰۵ د جولای په میاشت کی، «والستریت ژورنال» د آلمان او سویس په آرشیفونو کی له ډیرو څیړنو وروسته داسی راپور ورکړ: «تاریخی نښې نښانې شته چې دا څرګندوی چې ښاغلي رمضان د سی.آی.ای څارګر په توګه دنده ترسره کوله.» د لویدیځ آلمان آرشیف لاسوندونه چې

***هغه کس چې په ۱۸۸۵ کی د بریتانیا په لارښونه د پان اسلامیزم خوځښت جوړولو وړاندیز وکړ بل څوک نه وو پرته له «سید جمال الدین افغانی» څخه. له ۱۸۷۰ لسیزی څخه تر ۱۸۹۰ لسیزی پوری سیدجمال الدین د بریتانیا لخوا حمایت کیده. د هند د څارګری اداری په پټو لاسوندونو کی یو ځای راغلی، په ۱۸۸۲ کال سیدجمال الدین بریتانیا ته وړاندیز کړی و چې په هند کی د هغوی د جاسوس په توګه کار کولو ته چمتو دی.***

***سیدجمال الدین، د پان اسلامیز بنسټ اېښودونکی، په واقعیت کی د نسب له نظره نه بلکه د لید له نظره د اسامه بن لادن نیکه دی. که د نبي اړخو او سخت دریځه اسلامپالو د نسب شجره را وڅیړو، نو داسی به وی:***

***«شیخ محمد عبده» (۱۸۴۹ -۱۹۰۵)، د مصر پان اسلامیست فعال غړی او د سیدجمال الدین (۱۸۳۸ - ۱۸۹۷) اصلی شاګرد، د سیدجمال د اغیز پراخوالي لپاره یی ډیره هڅه وکړه. عبده هم، «محمد رشید رضا» (۱۸۶۵ -۱۹۳۵) وروزه چې وروسته یی مصر ته ولیږه او هلته یی د عبده افکارو خپرولو او د متحده اسلامی حکومت جوړو لپاره د «المنار» مجله په لاره واچوله. رشید رضا هم په خپل وار سره حسن البناء (۱۹۰۶ -۱۹۴۹) وروزه چې د «المنار» مجلی له لاری یی رشید رضا سره پیژندګلوی پیدا کړی وه. حسن البناء په کال ۱۹۲۷ کی د اخوان المسلمین سازمان بنسټ کیښود. هغه ډیر زده کونکی لرل چې له وتلو زده کونکو څخه یو «سعید رمضان»، د اخوان المسلمین نړیوال رهبر وو چې په سویس کی یی دفتر درلود، او بل تن یی «ابو الأعلی مودودی» د «پاکستان جماعت اسلامی» مشر وو چې په پاکستان کی لومړنی اسلامی سیاسی ګوند د حسن البناء افکارو تر اغیز لاندی منځ ته رواړ. د حسن البنا نورو ځای ناستو د «اخوان المسلمین» څانګې په نورو اسلامي، اروپایی او امریکایی هیوادونو کی جوړې کړې. د هغو څخه یو تن له سعودی څخه و چې د امریکا پر وړاندی جګړه کی په افغانستان کی ګډون درلود او هغه بل څوک ندی پرته له «اسامه بن لادن» څخه، هغه ددی کړی تر ټولو توراندی سړی وو.***

د «ارواحو جګړه» کتاب،
استیو کول

د «والستریت ژورنال» په ورځپاڼه کې خپاره شول، څرګندوي چې رمضان څو واري په هغه اردني پاسپورت چې د سی.آی.ای لخوا ورته چمتو شوی و سفر کړی، او «د سفر ټول لګښت یې امریکا ورکړی.» او هغه له نږدې له سی.آی.ای سره د بلشویزم څخه د خلاصون په کمیټه کې کار کاوه، دغې ټولنې په ۱۹۵۰ او ۱۹۶۰ کلونو تر منځ د «آزادې اروپا راډیو» او د «آزادۍ راډیو» (هغه دوه شبکې چې د سی.آی.ای لخوا منځ ته راغلې) په لاره واچولې. د هغو لاسوندونو پر بنسټ چې د ۱۹۶۱ کال د می په میاشت کې په ژورنال کې خپاره شول، د بلشویزم څخه د خلاصون کمیټې یوتن چې د سی.آی.ای کارکونکی و له رمضان سره وکتل تر څو «د شوروی اتحاد پر خلاف ګډه تبلیغاتي» طرح جوړه کړي.

څرنګه چې څرګنده شوه، د رمضان کړنلاره یوازې د اسلامی مرکز جوړول نه و. هغه په کال ۱۹۶۲ کې د پراخ سازمان په جوړولو لاس پورې کړ، چې وروسته دا سازمان د نړیوالو سخت‌دریځه وهابیانو په مرکز بدل شو: د نړیوالو مسلمانانو ټړون. هانی رمضان وایی، «پلار می یوازې ددې ټړون بنسټ ایښودونکی نه و» بلکه «ددې ټړون منځ ته راوړلو فکر هم د هغه و». په لوړه کچه مرستې چې د سعودی لخوا کیدې، دې ټړون ته دا توان ورکړ چې د نړۍ هرګوټ ته د خپلو افکارو خپرولو لپاره تبلیغیان ولیږي، هغوی د وهابیت له مډل ته په ګټې اخیستلو سره جوماتونه جوړ کړل، ددې مرستو لړۍ آن د افریقا او منځنۍ اسیا اسلامی ټولنو ته ورسیده، او آن د اسلامي هیوادنو څخه بهر ته وغزیده. د فرانسوی نامتو اسلام پیژندونکي، ګیلیس کیپل په وینا، له دې ټړون څخه سخت‌دریځه اسلامپالو، د پاکستان اسلامپاله افراطیانو او د افغانستان جهادیانو او خپله اخوان‌المسلمین ته د مرستو رسید لپاره د یو پل په توګه کار اخیستل کیده. هغوی مهم ګټه اخیستونکي تشخیصول او عربستان ته یې رابلل، وروسته له مذهبي لاربښونو (پاکۍ) ددې زمینه برابریدله ترڅو د شاهی کورنۍ او یا هم د یو تجار له پراخو مرستو برخمن شي. کیپل په خپل کتاب کې، «جهاد: د سیاسی اسلام میراث» کې لیکي؛ «ټړون د سعودی د مذهبي مشرانو او یا د هند له وچې څخه د پوهانو چې د دیوبند مکتب پورې تړلي وو

او د مودودي ګوند پوری تړلي خلکو لخوا، رهبری کیده.» د دیوبند خوځښت، چې د اسلامي سخت‌دریځو مکتب دی په هند کې منځ ته راغی، دغه خوځښت په پاکستان کی اسلامي مدرسې جوړې کړې چې په پایله کې له هغو څخه طالبان راووتل.

په ۱۹۷۰، د ناصر له مړینې دروروسته او انور سادات چې له کلونو راپدیخوا د اخوان‌المسلمین غړی و په واک ته رسیدو سره، اخوان‌المسلمین او رمضان لا پیاوړي شول. له ۱۷ کاله بندیز وروسته، رمضان د اخوان‌المسلیمن د یو هیئت په سر کې چې د عربستان لخوا ترتیب او تمویل شوی و مصر ته ولاړ، ددی سفر موخه له سادات سره خبری اتری وی ترڅو په مصر کې اخوان‌المسلمین ته د کار اجازه ورکړي. (د رابرت بایر، د سی.آی.ای پخواني کارکونکي چې د اخوان‌المسلمین او سی.آی.ای اړیکو په اړه یی لیکلي، په وینا، سعودی عربستان «د اخوان او مصر تر منځه دلال و.»

پدی وخت کی، سادات هڅه کوله چې د مصر او شوروی اړیکې خرابی کړي، ولی سادات ددی سیاست پلی کولو لپاره قوی سیاسی ستنې نه لرلی، هغه په دولت کی د ناصر ټول پلویان ووژل. هغه ځانته د نوی هډی جوړولو لپاره اخوان‌المسلمین ته لاس وراوږد کړ او دا د اخوان‌المسلمین یو ورا بیا ژوندی کیدلو لپاره تلایی فرصت و.

***ولی رمضان، اخوان‌المسلمین او نور اسلامپاله ملاتړي به یی نه وای توانیدلی چې د القاعده په شان لوی سازمان یی منځ ته راوړی وای، مګر داچې د سړې جګړې پر مهال د امریکا ملاتړی او د واشنګټن پټې او نبکاره مرستې ورسره نه وای شوی، څرنګه چې په لاسوندونو کی یاد شوي رمضا هم د سی.آی.ای لپاره یو تاثیرلرونکی کس و او د هغوی لخوا ګمارل شوی وو.***

*رابرت دریفوس*

په ۱۹۷۰ لسیزه کی، د مصر اسلامي خوځښت پراخوالی وموند، هغوي مهم بنسټونه لاس ته راوړل او د سخت‌دریځه اسلامپالو مرکزونو میلمه‌پالنه یی وکړه، دوی په خپل وار سره وکولای شوی چې په افغانستان کی د شوروی ضد جهاد کی چې د سی.آی.ای لخوا په لاری اچول شوی و، ونډه واخلی. هغوی د «اسلامی جهاد»

په نوم د یو نوی اسلامی سازمان بنسټ هم کیښود، چی وروسته دا سازمان له اسامه بن لادن سره یوځای شو او د القاعده په یوه برخه بدل شو. په کال ۱۹۸۱ کی دغه سخت‌دریځه د خپل ښبنتن پرضد ودریدل: سادات د یو ټلویزیونی پروګرام په لړ کی چی پوځیانو ورته د احترام مراسم ترسره کول، د خلکو په مخ کی، د یو اسلامپاله لخوا ووژل شو.

په هماغه کچه چی رمضان په ۶۰مه او ۷۰ مه میلادی لسیزو کی په ختیځ د یو پیژدل شوی کس په توګه پیژندل کیده، دلته په لویدیځ کی هماغمره پټ پاتی شوی و. کیداشی چی امریکایانو د لومړی ځل لپاره د هغه نوم په واشنګټن کی د یو زارلرونکی قتل په اړه اوریدلی وی، او په امریکا کی شاید د اسلامی ترهګرۍ دا لومړنی پیښه وه. ۱۹۸۰ کال د جولای په ۲۲ نیټه، د علی اکبر طباطبایی د دروازې ټالی ووهل شوه، علی اکبر په واشنګټن کی د امریکا په سفارت کی د رسنیو مشاور و، چی د شاه له راپرزیدو وروسته په کال ۱۹۷۹ کی د آزاد ایران بنسټ جوړ کړ او په ډیره چټکۍ سره د خمینی اسلامی رژیم مخالف وګرځیده. هغه ورځ د دروازی شاته یو ځوان سړی و چی د لیک‌رسونکي جامی یی پر غاړه وی. دغه سړي طباطبایی په څو مرمیو وویشت، او هغه یی وواژه.

قاتل، یو امریکایی مسلمان و چی دیوید بیل فیلد نومیده، هغه د لیک‌رسولوجامی خپل یو ملګري شخه په پور اخیستې وی. له بیل فیلد چی اوس داوود صلاح الدین نومیږي، شخه څیړنې څرګندوی چی لومړی هغه جنیوا ته او وروسته ایران ته سفر کړی. څیړونکي په یو عجیبه واقعیت وپوهیدل: له دی پیښی وړاندی، په واشنګټن کی له یو عمومی ټلیفون شخه چی د بیل فیلد له دفتر سره نږدې و څو واری له رمضان سره اړیکې نیول شوی وی. رمضان د خمینی انقلاب له طرفدارنو شخه و. رمضان له دغه سړی سره مرسته وکړی چی په جنیوا کی د ایران له سفارت شخه وتښتی، او د آیت الله خمینی له ځوی سره یی هم اړیکې نیولی وی ترڅو وپوهیږی چی بیل فیلد تهران ته صحیح سلامت رسیدلی او که نه. څرنګه چی څرګنده شوه، بیل فیلد مخکی له دی چی په واشنګټن کی د ایران په سفارت کی د ساتونکی په توګه وګمارل شی له رمضان سره خبرې کړی وی. د «نیویارکر» ورځپاڼې شخه په نقل: د طباطبایی له وژل کیدو مخکی بیل فیلد د ایران په

پښتوګڼه ۲، وری ۱۳۹۴ - اپریل ۲۰۱۵

دولت کې د هغه له پلویانو څخه ۵۰۰۰ دالر لاس ته رواړی و.

بیل فیلد او رمضان د لومړی ځل لپاره د ۱۹۷۵ کال د جون په میاشت کې وکتل، هغه وخت رمضان څو میاشتې په امریکا کې تیرې کړې وې، او دغه سفر هغه ته دا فرصت ورکړ چې د واشنګټن په اسلامی مرکز کې وینا وکړي. لومړي ځل لپاره هغوي په هغه هوټل کې چې رمضان پکې اوسیده ولیدل، او له هغې وروسته رمضان د دری میاشتو لپاره د راندولف واشنګټن په واټ کې د بیل فیلد په ګاونډ کې اوسیده. رمضان به هغه ته د جهاد په اړه خبری کولی تر هاغه ځایه چې دا امریکایی ځوان پر هغه مین شو او د هغه عبادت به یی کولو. د لاسته راغلو لاسوندونو پر بنسټ چې وروسته په «واشنګټن پسټ» کې هم خپاره شول، بیل فیلد «د رمضان شخصی منشی، پټ مامور او د یو فدایی په توګه وو. رمضان د ژوند په ټولو برخو کی د هغه معنوی رهبر و.» رمضان هغه ته ښودلي وو، که چیر د اسلامی انقلاب په پلوي په تاوتریخوالي لاس پوری کړي،

***په ۲۰۰۵ د جولای په میاشت کې، «والستریت ژورنال» د آلمان او سویس په آرشیفونو کی له ډیرو څیړنو وروسته داسی راپور ورکړ: «تاریخی نښې نښانې شته چې دا څرګندوی چې نباغلي رمضان د سی.آی. ای څارګر په توګه دنده ترسره کوله.» د لویدیځ آلمان آرشیف لاسوندونه چې د «والستریت ژورنال» په ورځپاڼه کی خپاره شول، څرګندوی چې رمضان څو واری په هغه اردنی پاسپورت چې د سی.آی.ای لخوا ورته چمتو شوی و سفر کړی، او «د سفر ټول لګښت یی امریکا ورکړی.»***

*رابرت دریفوس*

هیڅکله به هم ونه ویریږي، بلکه دا کار به په ډیره آسانۍ سره ترسره کړي او هیر به یی کړي.» بیل فیلد وروسته «نیویارکر» ته وویل، «د هغه غږ را ته دا ویل چې له امر نه یی پیروي وکړم.»

په ایران کی بیل فیلد د رمضان پټ څارګر ګڼل کیده. د رمضان په درناوي یو ځل یی د لیبیا له مشر معمرالقذافی سره اړیکه ونیوله، وروسته یی د رمضان لخوا رسمی لیک د افغانستان جمهور رییس برهان الدین ربانی ته ورساوه. د دوه کالو لپاره یی په افغانستان کی د

روسانو پر ضد جهاد کی ګډون درلود.

د ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ زیږدیز کلونو ترمنځ، کله چی په ایران کی خمینی واک ته ورسیده او په پاکستان دیکتاتور ضیاالحق پر چوکۍ کښیناست، په افغانستان کی هم جهاد دوام درلود. په ورته وخت کی اخوان‌المسلمین په مصر، سوریه، فلسطین او نورو ځایونو کی پټې او ځواکمنې کړۍ جوړې کړې، په ختیځ کی د دغو حرکتونو سر راپورته کول د رمضان د نه ستړې کیدونکو هڅو پایله وه. سربیره پر دی چی اسلامپالنه اوس په خپلو پښو ولاړه وه، ولی زوړوالی او سپین‌ږیری‌توب له رمضان څخه پخوانی توان اخیستی و، او لوړ مقام یی نور دوام ونکړ او په ۱۹۹۵ کال کی د ۶۹ کلونو په عمر ومړ. د هغه ځوی هانی په اسلامی مرکز کی د هغه مسئولیتونو پر غاړه واخیستل، ولی بل ځوی یی، طارق، چی د سوئیس په پوهنتون کی استاد و د پلار په لاره تللو ته چمتو نه وه. په ۲۰۰۴ کال کی، د نوتردام پوهنتون له هغه وغوښتل چی د پروفیسور په توګه اندیانا ته ولاړ شي، ولی هغه ونشوکولای چی امریکا ته سفر وکړی، ځکه د کورنیو چارو امنیت ادارې هغه ته د ویزې ورکولو څخه ډډه وکړه.



*ربانی او مولوی خالص له ریګان سره په سپینه ماڼۍ کی*

نن، د رمضان څخه پاتی میراث هری خواته لیدل کیږی. اخوان‌المسلمین هم ځواکمن او پټ پاتی، او هڅه کوی تر څو د اسلامی هیوادونو یو ټولنه منځ ته راوړی چی د اسلامی قوانینو پر بنسټ د اوومی پیړۍ په توګه اداره شي. هغوي د خپل سیاسی بنسټ

ټینګولو لپاره د ایران او عربی تیلو څښتنانو له ملاتړ څخه ګټه پورته کوي. له مصر نه نیولی تر سوریه پوری او د عراق ګډوډی او ددوی په منځ کی د عراق اسلامی ګوند، د اخوان‌المسلمین له څانګو څخه دي.

ریویل مارک جریخت، د سی.آی.ای پخوانی مامور چی اوس د محافظ کارانو د نوی پانګوالۍ په انستیتیوت کی کار کوی، د «اسلامي پارادوکس» په نوم کتاب کی چی په ۲۰۰۴ کی خپور شو داسی وای؛ که چیری نن هم اخوان‌المسلمین په مصر کی واک تر لاسه کړي او د دموکراسۍ په مخ کی خنډ وګرځي «امریکا چمتو ده چی د سکولار دیکتاتور پر ځای له دوی څخه ملاتړ وکړي.»

**د امریکا تر سیوري لاندی په عراق کی مذهبي حکومت څخه تر په پاکستان کی د اسلامپالو واک، دا ټوله د امریکا او بنسټپالۍ کرغیړنه لوبه ده چی دوام لري.**

## کوباني؛ د مبارزې، مقاومت او حماسې درس!

وروستیو څو اونیو په لړکې کوباني وګړو بیا په ځانګړې توګه کردي ښځو د «داعش» تروریستي ډلې پروړاندې په میړانتوب سره مقاومت وکړ او د نړۍ آزادي غوښتونکو او پرمختللو خلکو او غورځنګونو لپاره د وحشت او ډار، ظلم او بې نیاوې پروړاندې د مبارزې دریځه وګرځیده او د مبارزې لار یې د کلک هوډ او انقلابي افکارو سپیځلتیا سره په عمل کې ننداړې ته وړاندې کړه. د کوباني مبارزو ښځو او سړو ته د ارزښت ټاکلو او منښې لپاره نن د نوامبر لومړۍ نیټه د «کوباني نړیواله ورځ» او د انسانیت او مقاومت سمبول څخه په پلوي د آزادي غوښتونکو او پرمختللو غورځنګونو او وګړو لخوا په ټوله نړۍ کې د پراخو لاریونونو د لارې لمانځل کیږي.



د ګوند لید

# «ټاکنیزې حماسې» یو عجیبه شی وزیږاوه!



بالاخره د خو میاشتو په تیریدلو او د خلکو په سیاسی شعور لوبو کولو او چل او ول وروسته، د جنایتکارانو او د دوی چوپړانو «ټاکنیزه حماسه» او «ملی جشن» په شرمونکی توګه پای ته ورسید او د نړۍ تر ټولو نوم‌بدی، اوږد، له درغلیو ډک او شرمونکی ټاکنې در کرزي په کرغیړنو کارونو کی ثبت شوې. ټول ستم‌کونکی او لوټ‌ماران له لفظي او فزیکی شخړې، چنه وهلو، د امریکا سفارت ته له تګ راتګ وروسته، دادی په ډله‌یزه توګه د ارګ په لوری درومی، او د ملت ځپلو او د هیواد وروستیو شتمنیو لوټلو لپاره، د «ملی یوالی حکومت» تر نامه لاندی غابنونه تیره کوي. اوس چې د «ټاکنو» او «دموکراسۍ» اصطلاګانی په بی‌ساری توګه ککړې او د

خلکو په منځ کې بې‌باوره شوی، اوس ددی نوبت دی چې د «ملي یوالی» اصطلاح هم په چټلۍ ولړي.
د «افغانستان د همبستګۍ ګوند» لا دمخه وړاندوینه کړی وه چې د نیواک د سیوري لاندی او د نړۍ تر ټولو فاسد هیواد چې په هغې کې ستم‌کونکی او د مافیا مشران کډون ولری، ټاکنې په دموکراسۍ ملنډې وهل او د پردیو غلامانو ته قانوني بڼه ورکولو معنی لری. ډیر لږ خلک په دی خبره و نه پوهیدل او د رای په ورکولو سره یې، خپلې رنګ شوی ګوتې په افتخار اوچتی کړی. همدغو خلکو هم ورسته له دی چې وی لیدل د ټاکنو د لانجې د هواری لپاره څو واری جان کری له امریکا راغی او دواړه نوماندان لکه د برده په څیر د هغه شاوخوا راټول شول و پوهیدل چې په یوه مسخره لوبه کې ترینه ناوړه ګټه پورته شوی او له دی امله د شرم او پښیمانی احساس کوی. نور نو هغه خلک چې سیاسی هم ندی په دی پوهیږی چې ددوی رای هیڅ ارزښت نلری او هغه څوک چې «سپینه ماڼۍ» وغواړي په څوکۍ کینوي.



*د امریکایي ارباب پر وړاندی په ذلیل‌توب سره د عبدالله او اشرف غنی د خم‌سرۍ له صحنو څخه.*

کرزي په خپله یوه وینا کې په غیرارادي توګه د امریکایانو هغه سناریو چې غوښتل یې ټاکنې وغزوی بربنډه کړه، هو به هو هماغه شان پلی کړه. د «رایو شمیرل او بیا شمیرلو» له ملنډو ډکه پروسه په کړیدونکی توګه وغزیده او په پای کې د کرزي دولت او چارواکو یې فرصت وموند چې وروستی ملي شتمنۍ ولوټي او خلک او هیواد د بې‌وزلۍ او مرګ

لوری ته بوځي، ددی ټولو ناخوالو پیټی زمونږ د بدمرغه خلکو په اوږو پروت دی او د ناامنی او ترهګریزو بریدونو له امله زمونږ بی‌وزله خلک وژل کیږي؛ د هیواد ویجاړ اقتصاد د څو میاشتو په ټپه ودریدو له امله وروستۍ سلګۍ وهي. د مالیې وزیر زاخیلوال د خیرات کاسه بیا د لویدیځ لوری ته نیولی او د پیسو هغه زیرمه چی کرزي هغه د خپلو لاسته‌رواړنو څخه بلل او ویل چی په هغې کی شپږ میلیارده ډالر دی، صفر ته رسیدلی او که سم‌لاسی مرسته ونشی نو دولت به و نه توانیږی چی د پوځ او پولیسو معاشونه ورکړي.

په کابل کی د امریکا سفارت دغه لړۍ په دقیقه توګه مدیرت کړه. امریکا چی د ټولو نوماندانو واکی په لاس کی لره، په دی باوره وه چی د کرزی له حکومت څخه به هم بدتر ګوډاګی حکومت منځ ته راوړي ولی دا بزکشی یی ددی لپاره په لار اوچولی وه ترڅو د خلکو فکر د امریکا کړن‌لاری په ګټه بوځي ترڅو یو تعداد ناپوه خلک ګواکی داسی فکر وکړی چی د جان کری تګ راتګ، له اشرف غنی او عبدالله سره د اوباما تلفنی اړیکی او له امریکایی چارواکو سره د امریکی په سفارت کی د دواړو نوماندو کتنه ددی لپاره وه چی «هیواد د بحران څخه وژغوری». ولی که لږ ژور فکر کړو، امریکا هرڅه په خپل لاس کی لرل او ددغی کرغیړنی او رسوا لوبی په لاره اچولو څخه یی موخه داوه ترڅو د خلکو په ذهنونو کی دا خبره ځای کړی چی د امنیتی تړون لاسلیک او د امریکا شتون نه پرته، په راتلونکی کی دا هیواد د ویجاړۍ و تباهی لوری ته ځي. همدی لپاره کله به یی عطا ته ویل چی په بدمعاشی سره او کله به یی امرالله صالح و محقق و امان الله کذره ته ټپکی ورکاوه ترڅو د واک په ښودلو سره خلک ویروي. د سکی بل لوری ته امریکا د پاکستان په مرسته په ۳۲ ولایتونو طالبی داعشیان پر خلکو ورخوشی کړل تر څو خلک د هغوی له ویری هر ډول حکومت منلو ته چمتو شي.

د امریکا لخوا په زور سره د «ملی یوالی حکومت» تر نامه لاندی یو عجیبه شی چی زمونږ پر خلکو وتپل شو، د دیارلس‌کلنی مافیایی دوری څخه به کراتو فاسدتر، بویناک‌تر او داړه‌مارتر وی. ښه به دا وی چی پر دغه دولت د «ملی خیانت دولت» نوم کیږدو. ددی وړاندوینه چی له وړو ځانورو څخه جوړ شوی او پر خلکو تپل شوی دولت به

هیواد او خلکو ته بدمرغي راولي، سخت کار به نه وي. مونږ ټول ددې ګواه یو چې ټول جنایتکاران، د مافیا مشران او د پردیو چوپړان دواړه ټیمونو څخه راتاو شوي وو او اوس هم ټاکل شوي چې اشرف غنی او عبدالله په ګډه سره د کرزی څخه په میراث پاتی د ماتې کشتۍ پر چوکۍ کښیني. هیڅ یوه نوی څیره نشو کولای په دغو دوه ټیمونو کی پیدا کړو. اشرف غنی او عبدالله او ګیرچاپیره خلکه یی ټول د همدغې بویناکی دستګاه ازمیښت شوي مهری دی چی خلک یی د بدلون هیله لری. د هر ډول «اصلاح او بدلون» او هوساینی او سولې او د فساد له منځه وړلو هیله له دغو کرغیړنو و تاریخځپلو څخه د ځان غولول دی.

په نوی اداره کی، ټاکل شوی چی «اسلامی ګوند»، «جمعیت اسلامی»، «وحدت ګوند»، «اسلامی اتحاد»، «ملی جنبش» او نوری هغه رټل شوی څیری چی افغانستان یی د ویجاړۍ لوری ته یوړو له خلقی-پرچمی خرڅ شو او تکنوکراتانو سره یوځای، په ارګ کی دیره شي. بنسټپالان چی د یو یا څو هیوادونو د غلامی زنځیر په غاړه لری، د کلونو راهیشي یی دا په ډاګه کړی چی پر هیڅ لوز او وعده وفا نکوی، آن تردی چی په مکه کی یی پر قرآن لاس کیښود او په یوه شپه کی یی خپل قسم مات کړ.

آیا محقق چی اشرف غنی ته په «وچ‌کولمي» ویلو هغه سپک کړ، امکان لری چی پرته له کولمو شکولو هغه سره روغه وکړي؟ هغوی چی پرون یی اشرف غنی ته «یهود» او «کافر» ویل او هغه یی نه مانه، په یوه کاسه کی به سره جوړ راشی؟ په داسی حال چی عطا لکه د فلم بدمعاشانو په خیر ګواښ کوی چی هیڅ څوک نشی کولای هغه له ولایت څخه لری کړی، آیا اشرغنی چی ویل یی ټول سرتنبه والیان او په خاصه توګه عطا به لری کړی، په خپل لوز به وفا وکړی؟ آیا عبدالله له اشرف غنی سره چی تر پرونه یی هغه ته د «درغلیو استاد» ویلی او هغه یی د «موازی دولت» پر جوړولو او «شین او نارنجی» پاڅون ګواښه او د «ارګ یا مرګ» کوکاری یی وهلی، ممکنه ده چی پرته له سر ماتولو په یوه څوکۍ کی کښیني؟ ددی او ورته نورو لسګونو پوښتنو ځواب کولای شو چی ددوی له تور تاریخ څخه په آسانی سره پیدا کړو. دغه رټل شوی خلک چی د خپل خیرن جیب پرته پر ملت هیڅ زړه سوی نلری، ډیر ژر به ارګ د رقابتونو او جګړو په ډګر بدل کړی او د

واک په لومړیو اونیو کی به د څوکیو د ویش پر سر ښکر په ښکر شي. د مافیا مشران لکه ضیا مسعود، سیاف، ګل‌آغا شیرزوی، محمود کرزی، حاجي الماس، جمعه‌خان همدرد او نور هر یو د څوکۍ لاس ته راوړلو لپاره د عبدالله او اشرف غنی شاوخوا راټول شوی چې د مهمو پستونو نیولو لپاره به لاس په تنهۍ شي.

د سهامی شرکت د کار په پیل سره، بیا هم زمونږ هیواد به د فساد، جګړې، د طالبانو ترهګرۍ، ناامنی، د عدالت قربانی کیدو، مخدره توکو زیاتوالی، امریکا او ناتو بمباران، د پاکستان ښکاره تیری، د ایران ناولی رژیم لاسوهنو او د پردی ترشا د نړۍ او نورو هیواد لوبو ګواه وی. هغه «کارپوهان» او «شنونکی» چې نیوکه‌کونکی «مثبت‌فکر» کولو ته رابولی، ډیر ژر به ددوی پلوی د ځاورو له یووالی څخه ددوی د مخ‌تورۍ سبب وګرځي.

د «افغانستان د همبستګۍ ګوند» خلکو ته د پردیو چوپړانو جنایت‌سالارانو او فاسدانو څخه نوی جوړ شوی ګوډاګي حکومت تسلیت وای. مونږ یو واری بیا دا اعلان کو چې ترڅو افغانستان خپلواکۍ ته نه وی رسیدلی او د نیواکګرو او غلامانو څه د حکومت په جامه کی او څه هم د «وسله‌وال اپوزیسیون» په جامه کی تر پښو لاندی وی، زمونږ خلک به خپلو غوښتنو ته ونه رسیږي. د غنی–عبدالله لومړی کار په امریکا د افغانستان ارزانه پلورل وی، چې له لدی امله به د ګوتو په شمار ملی خاینان چاغ او خلک به لا د بدمرغۍ لوری ته بوځي.

له اوسني حالت څخه د وتلو لپاره زمونږ هیواد د «نړۍ دومین متفکر مغز»(!) ته نه، بلکه باوجدانه، ملی، خپلواکۍ غوښتونکي او د پردیو ضد عناصرو ته اړتیا لری چې د مرګ او ژوند په مبارزه سره وکولای شی هغه د بدمرغۍ او تورتم او ظلم څخه وژغوري. زمونږ خلک باید د ملی–دموکراتیکو او مخکی‌تللي ځواکونو شاوخوا راټول شي چې د ځان لپاره نه بلکه د آزادۍ، عدالت او ځمکنۍ بشپړتیا لپاره جنګیږي. له اوسنیی ناخوالو څخه زمونږ د ګران افغانستان د ژغورلو لپاره لدی پرته بله لاره نشته.

ګزارشونه



# په ننګرهار ولایت کې د همبستګۍ ګوند د فعالینو غونډه



د ۱۳۹۳ کال د وري په ۱۴ نیټه جلال‌آباد کې د ګوند نوبتي غونډه پرلار واچول شوه، چې پدغه غونډه کې د ښار او ولسوالیو استازو ګډون کړی و. د غونډې په پیل کې د ننګرهار ولایت، ولایتي مسوول د ګوند کړنو او په ځانګړې توګه په ننګرهار ولایت کې د ګوند کړنې وارزولې.

نوموړي د ګوند لاسته راوړنې وستایلې او نیمګړتیاو ته یې ګوت نیونه وکړه او د ګوند پر غړو یې غږ وکړ که چیرې موږ غواړو هیواد او هیوادوال د اوسني وضعیت څخه وباسو، باید هر راز سربښندنو ته چمتو اوسو او په بشپړ ډول د ګوند تګلاره او سیاستونه ولسونو ته ورسو، ترڅو خلک تردې پوهې ورسیږي چې د هر راز بې نیاوي پروړاندې ودریږي.

دغه راز هغه د خپلو خبرو په لړکې د ګوند د کړنلارې په بنسټ خپله استعفا وړاندې کړه او ویې ویل چې باید د آزادو ټاکنو د لارې نوی مسوول وټاکل شي.

ورپسې د همبستګۍ ګوند د مرکزي دفتر استازي د تیر یو کال د ګوند کړنو، سیاستونو او اوضاع په اړه روښنایي واچوله او د ګوند د لاریونونو او غونډو پر تاریخي ارزښت وغږید او پدې توګه یې زیاته کړه چې له بده مرغه موږ او تاسو د هیواد په کچه یواځنی دموکرات ځواک یو چې د تیرو دریو لسیزو د جنایتکارانو او ټوپک سالارنو محاکمه او نیاو پلي کیدل غواړو.

نوموړي په خپلو خبرو کې وویل چې د دغو ناوړو څیرو د محاکمه کیدو پرته په هیواد کې د سولې او سوکالۍ سوری ناشونی دی: «که چیرې د دغو جنایتکارانو لاس له ځواک څخه لنډ او دموکرات او پر سیکولاریزم ولاړ دولت رامنځته نشي، نو پداسې حال که به موږ یو ملي دولت ونه لرو.»

په ورته توګه نوموړي د دموکرات دولت د رامنځته کیدو په اړه داسې وویل: پرته له سیکولاریزم څخه د یو دموکرات دولت رامنځته کیدل به نیمګړی او بې مانا به وي، د دې لپاره چې موږ وکولای شو د ټوپک سالارنو او زورواکو د جنایتونو مخنیوی او د محکمې میز تر شا یې ودرو، نو د دغې دولت رامنځته کیدل اړین لیدل کیږي.

نوموړي په پای کې د ننګرهار ولایت مسوولین د دې لپاره د نیوکې لاندې ونیول چې د ښځو د سیاسي پوهې په برخه کې یې د پام وړ ګامونه نه و پورته کړي او دې ته یې اشاره وکړه چې زموږ ګوند ته د نارینه وو ترڅنګ د ښځو اوږه په اوږه مساوي مبارزه ډیر ارزښت لري او د ګوند له سیاستونو څخه دی چې ښځې د سیاسي کیدو او د پوهې ورکولو دلارې خپل واقعي حقونه ترلاسه کړي او د ټولنې او هیواد په رغښت کې مساوي ونډه ولري.

د غونډې په پای کې د ننګرهار ولایت د اتو ولسوالیو دره نور، ښیوې، بهسودو، اګام، خوګیاڼیو، سرخرودو، کامې، کوټ او دغه راز د شیخ مصري کمپ او د جلال آباد ښار ښاري کمیټې او استازي او ولایتي مسوول د آزادو ټاکنو د لارې وټاکل او د ګوند پلویانو ته وروپیژندل شول، څو په خپلو سیمو کې د ګوند په کارونو کې فعاله ونډه واخلي.

اعلامیې



# پاڅون او يووالي سره کولای شو، نیواکګرو او د دوی پر چوپړانو بريالي شو!



د امریکایي یرغلګرو او د دوی هملاسو لخوا د افغانستان د نیواک دیارلس کاله پوره شول. هغه نیواک چې د سپتمبر د یولسمې وینې تویونې دسیسې سره ترتیب او د ملګرو ملتونو او ناټو ځواکونو پرمټ او د بې ۵۲ الوتکو په غوریدو سره پیل او په ارګ کې خپلو چوپړانو سره د غلامۍ سند په لاسلیک کیدو خپلې وروستۍ موخې ته نیږدې شو. امریکا د بن خاینانه ناستې په لړ کې د ملت پیژندل شوي دښمنان چې ډیر مهال یې د تربیې لاندې نیولي وو، یو ځل بیا یې د «تروریزم پروړاندې مبارزې»، «دموکراسۍ»، «بشري حقوقو» رامنځته کولو او «بیارغونې» په پلمې سره د ملت په ټپي شویو پښتورګو ودرول چې زموږ ملت ته یې د دوه ګونې وینې

تویوني، ویجاړتوب، لوټماری، بې وزلۍ او د بربریت او تروریزم ملاتړ پایله درلوده، لیکن یو شمیر خاینین او هیوادپلوري یې میلیاردر کړل.

امریکایي چارواکو پر افغانستان څو میاشتې وروسته له بریدونو اعلان کړل چې تروریزم ماتې خوړلې او طالبان چټل دانیو کې واچول شول، لیکن د دیارلس کلونو په تیریدو سره دغه وینې څښونکې او جاهله ډله د تیر پرتله په پریمانه توګه د هیواد په ۳۲ ولایتونو کې شتون درلود او زموږ خلک یې د ظلم او بې رحمۍ لاندې نیولي دي.

څرنګه چې نور ټولو ته روښانه ده د منځنیو پیړیو د طالبانو چټل رژیم د امریکا لخوا رامنځته شوې و، نن ورځ هم دغه د آی. اس. آی او سي. آی. ای تولیدات د امریکا او ناټو د واټونونو د پاکیدو په څیر رول لوبوي. امریکا زموږ په هیواد کې د انسان وژونکو طالبانو له شتون څخه داسې ګټه واخیستله چې دې ته ورته دا تجربه یې د سوریې او عراق بې وزلو وګړو د داړلو لپاره د «داعش» په نوم داړونکې ډلې په رامنځته کیدو سره تکرار کړله.

د ۲۰۰۱ زیږدیز کال د اکتوبر اوومه چې د امریکا غلامان او د دوی تبلیغاتي لوډسپیکرې زموږ د ملت د نیکمرغۍ ورځ بولي، په رښتینې سره زموږ د تاریخ توره ورځ ده چې د امریکا او د دوی د نوکرانو په منګولو کې زموږ هیواد د پریوتو لامل وګرځید. نه یوازې دا چې تروریزم پای ته ونرسید، ترڅنګ یې د مخدره توکو مافیا او ټوپکسالاران ځواکمن کړل؛ دغه راز سوله هم د ملت لپاره د نه رسیدونکې هیلې په توګه وګرځید او هره ورځ زموږ ډله ډله بې ګناه وګړي وژل کیږي؛ نه یوازې دا چې نیاو عملي نشو، بلکې په ځواک کې د انسان وژونکو او کسبي مجرمینو په کینولو سره هره ورځ د ظلم او زیاتي او بې نیاوۍ لیدونکي یوو؛ که څه هم کسبي قاتل دوستم په ۲۰۰۱ زیږدیز کال کې د تیښتې په حال کې و، لیکن اوسمهال د هیواد په کچه دوهم ځای لري؛ د هیواد ښځې اوس هم د طالبانو له پیر څخه ډیر تاوتریخوالی سره مخ دي او د ځانسوزونې کچه یې په بې سارې توګه ډیروالی مومي؛ افغانستان د مخدره توکو تولید او فساد کې د نړۍ اتل شو؛ نوې عمومي کتنه (سروی) کې افغانستان د دردیدونکو هیوادونو په کتار کې ثبت شو؛ د ملت په ګټه د اقتصادي ودې او بنسټیزو پروژو هیڅ څرک نه لګیږي؛ د پاکستان او ایران کرکجنو هیوادونو لاسوهنې د تیر پرتله

په بې سارې توګه ادامه لري او د دغو دوو چټلو هیوادونو نوکران د افغانستان د دولت په لوړو څوکیو کینول شوي دي... او دغه د دیارلس کلونو بدمرغیو لیست یو من کاغذ ته اړتیا لري.

تاریخ او زموږ وګړو تراوسه په کرکې سره د ګندمک او ډیورنډ خط د تړونونو شرم لا هیر کړی ندی او اوس د هیواد د پلورلو سند په لاسلیک کیدو سره (له امریکا او ناټو سره امنیتي تړون) د تاریخ بل داغ پرهغه ور اضافه شو. دګوتو په شمیر هیوادپلورو جنایتکارو زموږ په خاوره کې د دایمي اډو شتون په منلو سره د افغانستان د پلورلو وروستۍ لړۍ د استراتیژیک او امنیتي تړون په لاسلیک کیدو بشپړ کړ. پدې توګه اوسنی لاسپوځی رژیم چې د هماغو پلورل شویو او هیوادپلورو عناصرو ګډوډیشن دی، د دې سند په لاسلیک کیدو یې د هیواد مور پر ټپي وجود وروستی ژور ګوزار ورکړ، څو په بشپړه توګه د بندبښت او بدمرغیو کړۍ د ملت پر غاړه واچوي. که چیرې پانځیرو او سرتاسري یووالي او پاڅون سره د استعمار اډه ویجاړه نکړو او د خپلو پلرونو او نیکونو په څیر د دوی داخلي چوپړانو او مزدورانو ته د عبرت درس ورنه کړو، په کلونو کلونو به رسوا او دمنځه تلو برخلیک سره به لاس او ګریوان یو.

## هیوادوالو!

د زبرځواکو نړیوال تضادونه تر څوکې رسیدلي او اوکراین، سوریه، عراق او افغانستان د دغې تضاد بنسټیز ځایونه دي. په لومړي ګام کې د دغو جګړو قربانیان به هغه هیوادونه وي چې د امپریالیزم د لاس الې په توګه عمل ترسره کوي. په هیواد کې د نهو دایمي اډو شتون چې چوپړانو یې اجازه ورکړې، افغانستان به د اخ او ډب مهمه کربنه وي چې نړۍ پر دریمې نړیوالې جګړې ګواښي.

د محروم ملل پدې مغشوش وضعیت کې او په ځانګړې توګه هغه خلک چې په زولنو کې راګیر دي د پوهې په ترلاسه کولو د بې طرفۍ او بې غرضۍ له خوب څخه باید را ووځي، وحدت او سرتاسري یووالي سره د پوهه غورځنګونو ترشاوخوا راټول شي، د لوټمارانو دسیسې چې د خلکو له وینو رنګ اخلي دمنځه یوسي او د خپلواکۍ، دموکراسۍ او ټولنیز نیاو په لار کې پرځای ګامونه پورته کړي. په تاریخ کې تراوسه ندي لیدل شوي چې د بیروني ځواک پرمټ یو ملت سولې، سوکالۍ،

امنیت، دموکراسۍ او آبادۍ ته رسیدلي وي. شیطاني ځواکونه لکه امریکا یوازې د وژنو، بدمرغیو او جنایتونو صادرونکي دي او له هغه څخه تمه درلودل ځان ته له دوکې ورکولو پرته نور څه ندي. باید د امریکا د مزد اخیستونکو دوکه ونه خورو چې هڅه کوي د زهر شیندونکو تبلیغاتو، رواني جګړې او د فکرونو ګډوډولو دلارې د ملت ترمنځ د بې غیرتۍ او غلامۍ منلو تخم وشیندي.

د «افغانستان د همبستګۍ ګوند» په تکرار سره وایي: ترڅو چې د نیواک سیورى او د نیواکګرو ناوړه لاسونه د افغانستان په چاپیریال کې واکمن اوسي، د خلکو له ارادې څخه بیرون هر رژیم چې د واک پر ګدۍ کیني او د لاسپوخي او د یرغلګرو هیوادونو د ګټو خوندي کوونکی وي، که څه هم په سل وارو سره د تش په نوم آزادو ټاکنو له یو وړوکي سوري څخه ووځي، خپلواک او دموکراتیک به نه وي او له زولنو پرته سوکالي به ځان سره ونه لري. هغه مهال چې ملت خپلواکي ونه لري، نو واکمن دولتونه یې هم د نیواکګرو په زړه ټاکل کیږي او دا د امریکا په سفارت کې د نوماندانو د بسترو اچولو او د جان کیري ترځنګ د بردې په څیر د دوی شتون څرګند کړل.

د «افغانستان د همبستګۍ ګوند» د استعمار له بنده ګۍ څخه د خلاصون لارې لپاره د خلکو پر زیان نه منونکي ارادې پوره باور لري، د دښمنانو ناوړو سیاستونو بربنډول او د سرتاسري یووالي لپاره پوهه ورکول خپل بنسټیز مسولیت ګڼي او پدې باور دي چې زموږ د سولې غوښتونکی او د بهرنیو نه منونکی دولت د آزادۍ غوښتونکو غورځنګونو پرمټ د دغو ځبرځواکو او د دوی د داخلي سپو پوزه هم له خاورو او وینو ډکوي. موږ د خپلواکۍ، دموکراسۍ او ټولنیز نیاو د ترلاسه کولو لپاره د ملت د بدمرغیو عواملو پروړاندې د ګډې مبارزې عملي کولو له امله د نیواک او بنسټپالو ضد عناصرو لاسونه په کلکه نیسو.

**مړه دې وي نیواکګر او د دوی داخلي چوپړان!**
**یوازې وحدت او یووالي سره کولای شو دموکراسۍ او سوکالۍ ته ورسیږو!**

د افغانستان د همبستګۍ ګوند
د ۱۳۹۳ کال د تلې ۱۵مه - د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر ۷مه

همبستګي
پښتو ګڼه ۲، وری ۱۳۹۴ - اپریل ۲۰۱۵



اعلامیی

# د کوبانی له میړني مقاومت څخه ملاتړ وکړو!



څو اونۍ کیږي چې د کوبانی جنګیالي خلک ښځینه او نارینه د ناپوهو او ځناور لښکریانو پر وړاندې داسې په میړانه او زړورتوب مبارزه کوي چې د نړۍ د آزادۍغوښتونکو او باشرفه انسانانو ملاتړ یې ځان ته جذب کړ. د نړۍ په لویو ښارونو کې د کوبانی څخه په ملاتړ لاریونونه په لاره واچول شول، ولې بیا هم په اصلاح آزادې نړۍ او آزادو رسنیو پر هغې سترګې پټې کړې.

هغه څه چې د کوبانی غورځنګ ته ځانګړتیا وربخښي او له نورو خوځښتونو څخه یې جلا کوي پدې غورځنګ کې د زړه‌ورو او ننګیالیو ښځو ګډون دی. پر وطن مینې ښځې اوږه په اوږه له سړو یو ځای د دښمن پر وړاندې جګړه کوي او له سره تیری دي، ولې خپله خاوره

د منځنیو پیړیو جلادانو ته نه ورکوي. په کوباني کې د کوردي ښځو پرتمین ګډون، د نړۍ ټولو په بند کې رابنکیلو ولسونو ته او په ځانګړې توګه ښځینه سازمانونو ته د انسانیت او پر هیواد د مین‌توب لوست ورکوی او هغوي ته دا په ډاګه کوی چې «یو موټی خلک هیڅ کله ماتی نه خوري.»

نور نو ټولو ته څرګنده ده چې «داعش» د امریکا، اسراییل او انګلستان ارمونی اولاد دی چې په سیمه کې د خو چوپړو هیوادونو لکه ترکیه، عربستان، اردن او قطر په مرسته د کلونو راهیسی روزل شوي، په مخکی تللی وسله د یو پوځ په څیر سبمال شوي دي. دغې ارتجاعی او بشر ضد ډلی، لکه د طالبانو او القاعده په څیر، د اسلام تر نامه لاندی د امریکا او لویدیځ استعماري کړنلارو ته لاره هواره کړې، منځنی ختیځ یی په اور او وینو کې لړلی ترڅو د امپریالیستي هیوادنو اوږمهاله نقشې د نړۍ په دغه سیمه کې پلی شي.

د امریکا او ملاتړو په مشرۍ د «د داعش پر وړاندې نړیوالې ټلوالې» ګونګوسې، د خلکو غولولو لپاره په لاره اچول شوي. له یوې خوا دوی د داعش پر وړاندی د مبارزی شعار ورکوي او ددی ډلې پروړاندی د هوایي برید خبرې کوی، ولی له بل پلوه په سپین‌سترګ‌توب د ترکې، اسراییل، قطر او نورو ارتجاعی رژیمونو په مرسته د داعش پوځ تمویلوی او د سوریی بی‌وزله ولس پر وړاندی جنایتکارانه جګړه پر مخ بیایی. پدی هم بسنه نه کوی، آن تردی چې د ددوی ټپیان په داسی حال د اسراییل په روغتونونو کی درملنی لاندی نیول کیږی چې د کوبانی ټپیان په پولو کی مري ځکه چې ترکی ته د ننوتلو اجازه نه ورکول کیږي. نن د ترکی دولت د بشار اسد رژیم پروړاندې د مبارزې کوکاری وهي ولی په کال ۲۰۰۴ کی کله چې کوردی مبارزان د هغه رژیم په بندی‌خانو کی په غیر انساني توګه ربړول کیدل، له هغه سره یی د ملګرتیا طرحې لاسلیک کولې.

که څه هم اوباما د خلکو غولولو لپاره د کوبانی وضعیت د اندیښنې وړ و باله، ولی د کوبانی مخکښ او آزادي‌غوښتونکی غورځنګ په سیمه کی د امریکا او د هغې د ملاتړو د سترګو اغزی دی او امریکا لپاره ددغو نه تسلیمیدونکو آزادي‌غوښتونکو ځپل حتمي ده تر څو سوریه د هر رنګ دموکراسی‌غوښتونکو او مخکښو عناصرو څخه پاکه شي. په همدی

اساس نه یوازې له دوی سره کومه مرسته نه کوي بلکه برعکس د ترکي لخوا یې کوباني محاصره کړی، او د مرستې رسیدو لاره یې پرې بنده کړې ده اوپه همدې حال کې د اردوغـان فاشیستي دولـت د «کـوردسـتـان د زیرکبنانو ګوند» مرکزونه، چې د کوباني یواځنی او کلک ملاتړی دی بمبارد کوي.



*دایرین، د کوباني جنګیالۍ نجلۍ، د بي‌بي‌سي له خبریالې، ګابریل ګیت هاوس سره په یوه مرکه کې (۲۰۱۴ کال د سپتمبر په ۵مه) وویل: «له هیڅ شي نه ویریږو، د ژوند تر پایه جنګیږو. له دینه چې د داعش په منګولو کې راګیر شو غوره ګڼو چې ځانونه ووژنو.»*

د تـرکـې مـسـتـبـد او ځپونکې نظام چې عملا د داعش د ملاتړي په توګه د پنتاګون اربابانو ترخیرمه ولاړ دی، د «لـه کوباني څخه دفـاع، لـه انسانیت څخه دفاع ده» لاریونونو په ځپلو سره یووار بیا خپله کرغیړنه او د انسانیت ضد څیره وښودله او په دې کار سره یې د کورد له راپاڅیدلي او مبارز ولس سره د جګړې اعلان وکړ چې دا د اور سره د لوبو په مانا ده. له بل پلوه د خامنه‌ای ـ روحاني انساني وژونکي رژیم چې د مبارزانو او آزادي‌غوښتونکو په ځپلو او کړولو کې نوم لرې، د داعش سره د مبارزې په پلمه غواړي چې خپله تللې آبرو او عزت بیرته لاس ته راوړي.

د کوباني جنګیالیو سپکه وسله او لږ مهمات د داعش له پوځي امکاناتو او تر شا یې د لویو زبرځواکونو شتون په هیڅ توګه د پرتلې وړ نده. د کوباني مبارزان یوازې دي ولې د هیواد او آزادۍ څخه دفاع کې د هغوي کلکه اراده د داعش او د هغوی د پلویانو د ماتیدو لامل شوې ده. د کوباني د خلکو د ستایلو وړ او افسانوي مقاومت ددې لامل وګرځیده چې د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه خلک په خپله خوښه ددوی کتارونو ته ننوځي او د ترکې د محاصرې کړۍ په ماتولو سره د جګړې ډګر ته ننوتل او د ژوند تر پایه هتله و جنګیدل. د کوباني د خلکو د انسانیت او مبارزې څخه ډکه روحیه کولای شو چې د هغوی د یوه مشر له خبرو څخه په ښه توګه درک کړو: «مونږ یا مرو یا بریالي کیږو.

هیڅ جنګیالی به ښار پرې‌نږدي. نړۍ نندارە کوي، یوازې ننداره کوي او اجازه یې ورکړې ترڅو دا دیوان ټول خلک ووژني...»

په داسې حال کې چې امریکا او ملاتړي یې نړۍ د جګړې او ځناورتوب او بربریت لورې ته بیایي، د کوباني د خلکو اتلولي د هیلې ځراغ په توګه د ستایلو وړ ده او باید له هغې څخه ملاتړ وکړو او د هغوی له انساني فکر او مبارزې څخه زده کړو. د کوباني آزادي‌غوښتونکې جګړه د امریکا او نورو ځواکونو او د هغوي چوپړانو لره چې د سیمې ویجاړۍ لپاره له خطر څخه ډکې نقشې لري او پلې کولو لپاره یې د وینو ویالې بهولې دي، د اور بځرکې ده. ځنې شنونکي د کوباني مقاومت په دویمه نړۍ‌واله جګړه کې د «ستالینګراد» له جګړې سره پرتله کوي چې د هټلري فاشیزم د شرمیدونکې ماتې پیل وه.




۱۳۹۳ کال د تلې ۲۰ مه- ۲۰۱۴ کال د اکتوبر ۱۲ مه: د کوبانی له میړنۍ جګړې څخه په ملاتړ په کابل کې د «همبستګۍ ګوند» لاریون.

د لویدیځو رسنیو سانسور برسیره، د کوباني پرتمینې جګړې د نړۍ آزادي‌غوښتونکو انسانانو په زړونو کې ځای وموند او د هغوی لپاره د عبرت سرچینه وګرځیده. کوباني د نړۍ آزادي‌غوښتونکو ته با ارزښته لوست ورکړ او د امپریالیزم او ترهګرۍ پر وړاندې جګړه کې یې هغوی یو موټي کړل. که څه هم کوباني له څلور لورې په محاصره که راښکیل ده او له سختو خطرونو سره مخ ده، ولې د خلکو اتلولي او مبارزه یې د نړۍ په تاریخ کې په زرینو ټکو ولیکل شوه او په هر حال کې هغوی د ډګرګټونکې دي که څه هم داعش په دې سیمه کې واک هم ترلاسه کړي.

زمونږ خلکو د کلونو راهیسې د خیانت او وینې بهیدو مزه څکلې او د یرغلګرو له لورې د مرخیړي په څیر د رنګارنګ دښمنانو رامنځ ته کیدو ګواه دي، نو هغه وخت رارسیدلې چې د کوباني له جنګیالیو څخه په الهام اخیستو، د نیواکګرو او د هغوي د کرغیړنو چوپړانو پر وړاندې چې

د ولس په برخلیک لوبی کوی، ګوتلي ګامونه راپورته کړو او راولاړ شو.

د «افغانستان د همبستګۍ ګوند» د کورنیو بدمرغیو تر څیرمه د نیواکګرو او ترهګرو پر وړاندې مبارزه کې یوازیتوب برسیره، د کوبانی او نورو بې‌وزلو ولسونو له اتلولۍ او نه ستړې کیدونکی مبارزې څخه ملاتړ کوي، او د مذهبي فاشیزم او د نړۍ وینه‌تویونکی ځواکونو پر واړندی د ګډې مبارزې غوښتونکی دی. د کوبانی له عادلانه جګړې څخه دفاع د ټولو هغو عناصرو دنده ده چې د ستم څخه پاکی نړۍ لپاره مبارزه کوی.

**راپاڅیدلي او یو موټي ولسونو ته هیڅ ځواک ماته نشي ورکولای!**

**د امریکا چوپړ شنونکو، د کوبانی د ښځو له زړورتیا او ویښ وجدان څخه وشرمیږي!**

**د کوردي اتلو ښځو په څیر راپاڅیږو که نه تر پای پوری به د ناپوهۍ او ظلم له زنځیرونو خلاص نشو!**

حزب همبستګی افغانستان
د ۱۳۹۳ کال د تلې ۲۰مه – د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر ۱۲مه

**له ۱۶ پاڼی نه پاتی برخه**





د «افغانستان د همبستګۍ ګوند» هم د کوباني مبارزو وګړو څخه خپله پراخه پلوي اعلان کړې او د هیواد په اوو ولایتونو کې د لاریونونو په لار اچولو سره د «کوباني نړیوالې ورځ» حرکت سره یوځای شوی. موږ له ټولو پرمختللو، خپلواکي او آزادي غوښتونکو وګړو او غورځنګونو څخه د زړه له کومې هیله کوو چې د غوړیدلي ګډون پرمټ د کوباني غښتلو وګړو سره خپل یووالی او زړه سواندي په عمل کې ښکاره کړي.

**ژوندۍ دې وي د کوباني حماسه رامنځته کوونکې ښځې!**

**له کوباني دفاع، انسانیت څخه دفاع ده!**


د افغانستان د همبستګۍ ګوند

پښتو ګڼه ۲، وری ۱۳۹۴ - اپریل ۲۰۱۵



لیکونکی: احمرا ژباړونکی: پلوشه

# د خپل ناهیلي ځوی څخه د پلار ګڼلي پلوي



د افغانستان د خلکو د غلولو لپاره د شمالي ټلوالې مشران او په ځانګړې توګه جمعیت اسلامي او شورای نظار د پاکستان ضد ناز او نخرې په لاره اچوي، خو دا ټولو ته جوته ده چه دوی د پاکستان دولت په لاس روزل شوې دي چې وروسته له حزب اسلامي د آی. اس. آی لخوا د امریکا دولت ډېره مرسته یې ترلاسه کوله. برسیره پردې د نورو اووه ګونو پیښوري ګوندونو په څیر د پاکستان د استخباراتو لخوا ډېرې چوپړتیاوې د دوی په واک کې ایښودل کیدې. پاکستان دوی ته د روسیې یرغلګرو جګړې په دوران کې جمعیت پورې اړوند د مهاجرینو پنډغاړی د چارسدې په سړک کې جوړ کړ او د دې ترڅنګ د بډه بیرې نظامي قلعه د دوی په واک که ورکړه.

د دغې مرستې له امله برهان‌الدین رباني وروسته له هغې چې واک ته

ورسید، د آی. اس. آی له رییس جنرال حمید ګل څخه چې له ۱۹۸۷ نه تر ۱۹۸۹ د دې شبکې په راس کې و، وغوښتل چې کابل ته راشي او د هغه د مشاورت دنده پر غاړه واخلي او د جهاد دوران په څیر ورسره مرسته وکړي مګر د حمیدګل لخوا ونه منل شوه.

د افغانستان د خلکو کرکجن دښمن جنرال حمیدګل پخوا له «دنیا نیوز» سره په خپله مرکه کې ګلبدین او حقاني انسان وژونکو ته «پاکستاني هیوادپالو» خطاب کړی و او اوس یې خپل ملاتړ له عبدالله څخه اعلان کړ. د فرانسې خپرونې سره د مرکې په ترخ کې چې څو پاکستاني ورځپاڼو په ګډون «دی ایکسپریس تریبون» څخه هم خپور شو، هغه د خپل شړل شویو ځامنو څخه عبدالله یې «د افغانستان د سولې لپاره ښه هیله» وبلله.




*پدغه انځور کې حمیدګل (له کینې خوا پنځم کس) د پاکستان د ښستپالو ډلو رهبرانو سره لیدل کیږي. د دوی په منځ کې حافظ سعید (له کیڼ څخه دوهم) «د پاکستان طیبې لښکر» مشر دی چې د نړۍ په کچه یو خطرناک بلواګر ګڼل کیږي. امریکا د هغه په سر لس میلیونه ډالر انعام ټاکلی دی. د طیبې لښکر په افغانستان کې هم د څو وحشیانه بریدونو مسوولیت پرغاړه اخیستی.*

د دې مطلب په سر کې، لیکونکی د جنرال حمیدګل په هکله داسې لیکي:

> «په تولیزه توګه هغه داسې یوه څیره پیژندل کیږي چې د ګاونډي هیوادونو لاسپوڅو باندې ډیر اغیز لري او د پاکستان د استراتیژیکو سیاستونو استفادې لپاره د هغوی د پلار حیثیت لري. همدا اوس یو شمیر کارپوهان پدې

باور دي چې دغه ۷۷ کلن متقاعد جنرال د دې هيواد د پوځي تشکيلاتو ترشاه مهم کس دی.»

او د جنرال حميدګل د وينا په ادامې سره ليکي:

«عبدالله د افغانستان د راتلونکې سولې لپاره ځانګړې ورتيا لري. که چيرې موخه همدا اوسي، نو ښه دی. هغه يو جنګيالی دی ..... او نور جنګياليان هم د هغه ترڅنګ ولاړ دي.»

وروسته زياتوي چې د کابل تنظيمي جګړو په لړ کې هغه د غير رسمي منځګړتوب په توګه دنده ترسره کوله:

«هغه مهال (۱۹۹۲ تر ۱۹۹۵) مې د احمدشاه مسعود په ميلمستون کې ژوند کاوه او عبدالله دنده لرله چې له ما څخه ميلمه پالنه وکړي نو ما له هغه سره هره ورځ ليدل.»

عبدالله د عام وګړو د غلولو لپاره د پاکستان ضد خبرې کوي او آن تردې چې د خپل ټاکنيز کمپان په لړ کې يې پر آريانا کابل هوټل برید د پاکستان کار وباله، ترڅو وکولای شي چې د افغانانو هيواد پالنې احساسات را وپاروي. خو حميدګل د «ايکسپريس نيوز» خبري چينل سره په يوه بله مرکه کې کله چې خبريال له هغه څخه د عبدالله په هکله وپوښتل، نو په ډيره شډله ژبه ځواب يې ورکړ:

«لومړی بايد دا څرګند کړم چې د هغه نوم عبدالله عبدالله ندی، هغه يواځې عبدالله دی.»



روزنامہ جنگ راولپنڈی (8) ہفتہ 27 جون 1992ء

حمید گل کو افغان اسلامی حکومت کا مشیر بننے کی پیشکش

کوئی معاوضہ یا مراعات نہیں لوں گا جب بھی ضرورت ہوئی اپنی عاجزانہ رائے پیش کر دوں گا


پروفیسر برہان الدین کی پیشکش پر سابق کور کمانڈر کا جواب

افغانستان کی اسلامی حکومت کوئی غیر ملکی قرضے وصول نہیں کریگی، ربانی

اسلام آباد (خبرنگار خصوصی) افغانستان کے نامزد صدر پروفیسر برہان الدین ربانی نے سابق کور کمانڈر لیفٹننٹ جنرل (ریٹائرڈ) حمید گل کے ساتھ اسلام آباد میں اپنی ملاقات کے دوران حمید گل کی خدمات کو سراہتے ہوئے یہ پیشکش کی کہ وہ مستقل طور پر کابل میں افغانستان کی اسلامی جمہوری حکومت کے مشیر کے طور پر خدمات سرانجام دیں تاہم اس موقع پر ریٹائرڈ لیفٹننٹ جنرل حمید گل نے نامزد افغان صدر کا شکریہ ادا کرتے ہوئے یہ موقف اختیار کیا کہ میں افغانستان کی اسلامی حکومت کی طرف سے کوئی معاوضہ یا مراعات قبول نہیں کروں گا۔ میں نے افغانستان میں اسلامی حکومت کے قیام

*د راولپنډۍ چاپ د جنګ ورځپاڼې يوه برخه د راولپنډۍ د جنګ ورځپاڼه (۱۹۹۲ د جون ۲۷):*
*«د افغانستان ولسمشر پروفيسور برهان الدين رباني په اسلام آباد کې د خپلې ليدنې پرمهال د جنرال حميدګل خدمتونه وستايل او له هغه يې وغوښتل چې کابل ته راشي او د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د مشاور په توګه دنده ترسره کړي. جنرال حميدګل دغه مهال د افغانستان ولسمشرۍ څخه په مننې سره وويل چې هيڅ راز ډالۍ نه مني.»*

او له دې خبرې وروسته هغه دا بربنډوي:
«له ما سره ډېرې ښې اړیکې لري، پیغامونه یې هم ماته را رسیږي.»
که چیرې ټوله دغه مرکه «مخامخ برنامه؛ د ۲۰۱۴ کال د اپریل ۱۰؛ خبري چینل «ایکسپرس نیوز») وګورئ، تاسې به ووینئ چې د دغې مرکې له پیل څخه تر پایه حمیدګل له تنظیمي رهبرانو څخه دفاع کوي، آن تردې چې له طالبانو څخه یې ډېر ښه بولي، چې دا د دې څرګندونه کوي چې تراوسه د پاکستان دولت بیا په ځانګړې توګه آی. اس. آی له خپلو ځامنو زړه ندی صبر کړی او پرهغوی نازیږي.
هغه څه چې روښانه دي، عبدالله او د هغه په څېر نور د پاکستان دولت پرضد اکټونو سره نشي کولای خپل اصلیت پټ کړي او په معمول ډول د پاکستان دولت پر څرګندونو باندې هم چپتیا غوره کوي ځکه دوی پوهیږي چې آ.ی اس. آی د دوی د چوپړتیا په اړه پوره اسناد او شواهد په لاس کې لري که هغه بربنډ شي، نو د دوی عزت که څه هم یې نلري، د افغان ولس پروړاندې به خاورو سره خاورې شي.
د اسلامی ګوند غلامي پاکستان ته څرګنده ده، خو دا هم د هیره ونه باسو چې د عبدالله دوهم مرستیال محمد محقق پاکستان سره نیږدې اړیکې لري او څه موده مخکې د پاکستان سفارت سره د حسین یاسا پرله پسې اړیکې بربنډې شوې چې د هغه د خپلوانو له ډلې څخه دی . ویل کیږي چې د حسین یاسا ورور د پاکستان د استخبارتي فوځ له جنرالانو څخه دی او د دې له لارې د آی. اس آی او محقق ترمنځ د اړیکو د ټینګولو دنده ترسره کوي. امرالله صالح چې اوس د عبدالله او محقق ترخنګ ولاړ دی تیرکال په خپل فیس بوک کې د محقق او پاکستان دولت ترمنځ د اړیکو په هکله لیکلي وو، په پوره باور سره ویلی شو امرالله صالح د ملي امنیت ریاست او «ملي جبهې» سره د نیږدې اړیکو درلودلو له امله له دې څخه ډېرو مسایلو په اړه زیات معلومات لري چې د بربنډیدو څخه یې مخنیوی کړی دی.
د عبدالله د بریا په صورت کې افغانستان به نور هم د پاکستان په پنجې کې پریوځي، یو ځل به بیا د طالبانو د مهال په څېر د هغوی د واکمنۍ ډګر به وګرځي. په همدې دلیل سره په ټاکنو کې پاکستان ډېره هڅه وکړه څو د دې ټیم د بریالیتوب زمینه چمتو کړي.




**امریکا حامی و بانی اصلی تروریزم در جهان**




**شرکت سهامی «ع» و «غ»**

کارتونیست: عتیق‌الله شاهد Attiqullah Shahid



لیکونکی: بهروز پویان | ژباړونکی: ذکریا

# ولي خان دروازی د افغانستان د خپلواکۍ معرفي کوونکی



ولـي خــان دروازی د بهرنیو چارو وزیر د حربیه (ملي دفاع) وزیر او د غازي امان الله خان نائب السلطنه زمـوږ د هـیـواد یـو واقعي آزادۍ غوښتونکی شخصیت وه چې د انګلیسي نیواک او استبداد په وړانـدې د افغانستان د خپلواکۍ لاس ته راوړلو په مبارزې کې ئې مهم نقش درلود، هغه د لمړي ځل لپاره د اماني دولت له خوا د ګرځنده سفیر په توګه د افغانستان سیاسی اړیکې د نړۍ هیوادونو سره د یو خپلواک او مستقل هیواد په توګه ټینګې کړې. اروپایی، امریکایی او اسیایی هیوادونو ته یې سفرونه وکړل تر څو د افغانستان ملې پیژنده، استقلال او خپلواکۍ وروپیژنې.

شاه محمد ولي خان دروازی د شاه ابو الفیض خان ځوی په ۱۲۷۰ هجري شمسی کال د بدخشان د درواز په ولسوالې کې زیږیدلی وه. په

هغه زمانه کې شاهانو د سیمه ایزو متنفذینو او مخورو خانانو د پاڅون او سرغړونې د مخنیوی لپاره د هغوی ځامن د ښوونې او روزنې په پلمه دربار کې ساتل چې پدې توګه ئې د هغوی پلرونه هم په خپل واک کې نیولي وه او ځامن ئې د غلام بچه ګانو په نوم یادیدل تر څو د همیش لپاره د دغو مستبدو شاهانو سرپرېکړې غلامان پاتې شي. دروازي هم د امیر حبیب الله خان د دربار له غلام بچه ګانو سر یوځای شو. خو د هغه وخت سیاسی ـ اجتماعی وضعیت په ځانګړې توګه د مشروطه غوښتني غورځنګ د دروازي په ذهن کې نور سوچونه او ولولې وروزلې. دروازي امان الله خان سره چې د دربار مترقی او مخکښ شهزاده وه د دوستې نږدې ټینګې اړیکې جوړې کړې، زیاتره یو د بل په همفکری باندې ډاډمن وو، په وروستیو کې دغې دوستي د افغانستان په حالاتو مثبته اغیزه درلوده. دروازي د دغې دوستې او فکر په جرم د غرغرې کړۍ په میړانې سره تر غاړې کړه.



*ځوان دروازي له محمود طرزي سره چې د مشروطه غوښتني افکارو په پیاوړتیا کې ئې ستره ونډه درلوده او د پام وړ نقش یی لوبولې.*

په ۱۹۰۶ کال کې د لمړۍ ځل لپاره د مشروطه غوښتني بنسټ ایښودونکو ۲۵ غړو د میر سید قاسم لغمانې په کور کې چې د کابل په شور بازار کې ئې موقعیت درلود غونډه وکړه. لمړې مشروطیت د مولوی سرور واصف تر رهبرې لاندې د «جمعیت سرې ملې» یا د«نهضت جوانان افغان» تر نوم لاندې جوړ شو. ځوان دروازي د دغه غورځنګ فعال بیرغ ساتونکې وه، دروازي لکه د نورو خپلو سپیڅلو یارانو په شان د خپل ابتکار، روښانه لید او وطندوستې له مخې چې هر ډول قومې، مذهبې، سمتې، ژبنې او سیمه ایز تعصب څنې پرته د مشروطیت د بریالیتوب او د هیواد د خپلواکې لپاره مهم او ستر نقش ولوباوه. هغه ملي ګټو ته ډیر ارزښت ورکاوه. له ملي خاینانو او انګلیسی استعمار ځینې ئې ډیره کرکه درلوده.

له همدې کبله د غازي امان الله حکم سره سم د انګلیس امپراتورۍ په وړاندې د افغانستان د خپلواکۍ جګړې ته ودانګل او د خپلو ملګرو سره یوځای د تورې په زور د افغانستان ملت ته خپلواکي وګټله.

د امیر حبیب الله خان د سلطنت پای، د انګلیسانو وتل، د مشروطه غوښتونکو بریا او د غازي امان الله خان تر مشرۍ لاندې د خپلواکۍ ګټل، سره یو ځای منځ ته راغلل. په همدې وخت کې د مشروطه غوښتونکو ټولې هلې ځلې نورو هیوادونو سره د سیاسي اړیکو ټینګولو په موخه لمړنې ګامونه وو چې دروازي د هغه په سر کې د ګرځنده سفیر په توګه خپل سفرونه پیل کړل، میر غلام محمد غبار په خپل تل پاتې اثر «افغانستان در مسیر تاریخ» کې شوروي ته د هغه د سفر په هکله لیکې:

«د دې ستر پلاوي رئیس د دربار یو روڼ آندې لیبرال محمد ولیخان بدخشاني او د دې پلاوي بل عمده غړې د مشروطه غوښتونکو د ډلې یو فاضل افغان میریاربیک خان بدخشي وه چې د حرکت په ورځ ئې د آس پرشا سکته وکړه او سترګې ئې له نړۍ څخه پټې کړې، دا مړینه د هیواد د نورو روڼ اندو د ډیر غم او خپګان سبب وګرځیده ... د دې پلاوي نور غړي عبارت وه له میرزا محمد یفتلی، عبدالرحمن خان لودین، محمد ګل خان مومند، سردار فیض محمد خان ذکریا، قاضي سیف الرحمن خان، عبدالرحمن خان کمیدان، خواجه هدایت الله خان، بشیر احمد خان، عزیزالرحمن خان، غلام جیلاني خان... او داسې نور.» ( ۷۸۶ مخ لمړې ټوک – «افغانستان در مسیر تاریخ»)

د «پراودا» ورځپاڼې د ګزارش له مخې چې په ۱۹۱۹ کال د اکتوبر په ۱۷ نیټه شوروي کې چاپ شوې: محمد ولیخان دروازي د هغه کال د اکتوبر په ۱۴ نیټه ایلیچ لینن سره وکتل او د شاه امان الله خان پیغام ئې د شوروي دولت ته وسپاره لینن د افغانستان استازي پدې ټکو هرکلي وکړل:

«زه ډیر خوشحاله یم چې د کارګرانو او بزګرانو په سرې پلازمېنې کې د افغانستان د دوست ملت استازو سره چې امپریالیسم سره په جګړه اخته دي ګورم»

ولي‌خان دروازی له لینن څخه وغوښتل:

«زه تاسو ته د دوستي لاس غځوم، هیله لرم چی ټول ختیز سره مرسته وکړی تر څو ځانونه د اروپایی امپریالیسم یوغ څخه خلاص کړی»

د دی په څنګ کی ولی خان دروازی د دوه کالو په اوږدو کی مختلفو هیوادونو ته د افغانستان د خپلواکي او استقلال پیژندلو او د دپلوماتیکو اړیکو رامنځ ته کولو په موخه سفرونه وکړل. په پایله کی څو هیوادونو لکه فرانسه، المان، ترکیه او ایتالیا افغانستان کی خپل سفارتونه پرانیستل په همدی ډول افغانستان هم په پورته یاد شوو هیوادونو کی خپل سفارتونه پرانستل. سربیره پر دی آلمان یو د هلکانو ښوونځی د «امانی عالی لیسه» په نوم او فرانسی دوه ښوونځی یو د هلکانو او بل د جنکو لپاره د«امانیه ښوونځی» چی دامانی دورې تر سقوط وروسته د استقلال په نوم بدل شو او د«ملالی‌لیسه» جوړ کړل، ۴۰ تنه نارینه زده کوونکی د عالی زده کړو لپاره آلمان او فرانسی ته واستول شول او یو شمیر نجونې ترکیه ته ولیږدول شوې. همدا ډول یو شمیر فرانسوی، آلمانی، ترکی او ایتالوی کارپوهان د ښوونی او روزنی، لرغون پیژندنې، صنعتی او نظامی برخو د پراختیا او پرمختک لپاره افغانستان ته راغلل چی حتی تر اوسه د افغانستان خلک همدغو بنسټیزو پروژو څخه ګټه پورته کوی.



*دروازی د فرانسی د نظامی الوتکو د لیدنی په حال کی چی بیا وروسته له فرانسی سره په همدی هکله یو تړون لاس لیک شو.*

تر دوه کاله سفر وروسته دروازی بیرته هیواد ته ستون شو د محمود طرزی پرځای د بهرنیوچارو وزارت، وروسته تر هغه د حربیه وزارت (دفاع وزارت) دندي په غاړه واخیستې.

د امانی دولت تر ړنګیدو وروسته د دویم مشروطیت غوښتونکو زیات رون آندې او هغه کسانو چی امان الله خان سره ئی همکاری درلوده د

حبیب الله کلکاني او وروسته د نادرشاه له لوري تعقیب او ونیول شول، پدی منځ کی نادرشاه د خپلی کینې او عقدې له مخی زیاتره آزادی غوښتونکی او روڼ آندې ډله ډله په دار وځړول او یائی د تورو تمبو شاته په ویرووونکو زندانونو کی واچول. محمد ولیخان دروازی هم د نادرشاه له خوا لمړی په اته کاله حبس محکوم شو، خو دی کار د هغه د زړه کښنه پوره نکړه او په نورو دسیسو یی لاس پوری کړ حتا تر دې چی جلاد نادر خپل نږدې او باورې غوړه‌مالان وګمارل چی د دغه ستر شخصیت په وړاندی د درواغجنو تورونو شهادت ورکړی، چی ګواکی هغه له حبیب الله کلکانې سره مرسته او همکاری کوله.

د دروازی او د هغه د ملګرو د محکمی او اعدام بهیر دهغه وخت په دولتي مطبوعاتو کی له هغی جملی څخه د اصلاح ورځپاڼی په ۳۶ ګڼه کی د ۱۳۲۱ کال د وږي په ۲۰ نیټه «د هیواد د خاینانواعدام» تر عنوان لاندی د هیواد د پاچا بی ننګه اجیرانو له خوا پدی ډول بی شرمی سره لیکل شویدی:


اصلاح
اعدام خائنین وطن

د «اصلاح» له ورځپاڼي څخه غوڅه شوی ټوټه

«د محمد ولی ستر جنایت له کبله چی سقاویانو سره ئی د هیواد دتباهی لپاره مرسته کړی وه او د همدی حق ناشناسه خاینینو په لاس هیواد د سقاویانو تر واک لاندی راغي، زموږ د هیواد ټول وګړې پدی پوهیږی او د هغوی د خیانتونو تفصیل چی د عالی دیوان ریاست د پیښو په کتاب کی د دغو ملی خاینانو او غدارانو د محاکمي جریان ثبت شویدی لوستی دی. که څه هم د نوموړی عالی دیوان د محاکمی په بهیر کی هغه د خپلو خاینانه اعمالوله مخی د قتل وړ پیژندل شوی وه، خو لدی سره د افغانستان د استقلال نجات بخښونکی شهریار غازی اعلیحضرت محمد نادرشاه

د ترحم او شفقت له مخې د هغه له قتل څخه منصرف شواو مجازات ئې اته (۸) کاله حبس وټاکل شو...»

د آزادۍ او خپلواکۍ د دې مبارز شخصیت د اعدامولو د توجیه په خاطر همدې مقاله کې له درواغو ډک توروونه په بې شرمۍ سره لیکې:

«د وروستنی مالوماتو له مخې چې تر لاسه شویدی، محمد ولی په محبس کې هم د تیر په شان اختلال پارونکی کړنې چې د هیواد لپاره تاوان رسوی لاس ندی اخیستي، همدا اوس د نورو فتنو او دسیسو جوړولو په هڅه کې دی، غوښتل ئې چې د هیواد د اوسنی امنیت او سوکالی په وړاندی درانه جرمونه سر ته ورسوی. څرنګه چې زموږ بریالی او غښتلی حکومت همیشه د هیواد د خیر، سوکالی او سمسورتیا غوښتونکی دی، پدی هکله ئې اصولی څیړنې پیل کړی، وروسته د محمد ولی د فتنې اچونې او شرارت په جرم تر بشپړ ثبوت او قناعت وروسته نوموړی په اعدام محکوم شو، تیره ورځ دغه مفسد خاین له غلام جیلانی، شیرمحمد، محمد مهدی او فقیراحمد سره یو ځای اعدام شول».

په پایله کې دغه ټول جنایتونه دهماغه زوړ فرمول«پاچا د خدای سیوري» په قالب کې د خلکو له سترګو پټ شول او لیکي:

«څرنګه چې د دی ریښتنی او امنیت غوښتونکی ملت ساتونکی او مرسته کوونکی لوی څښتن تعالی دی هغوی ئې د خپلو شومو کړنو په جزا ورسول پدی ډول زموږ ګران هیواد د دغو فاسدو خاینانو له ګواښ څنی خلاص کړ»

خو ښاغلی خالد صدیق چرخي د غلام صدیق چرخی ځوی او د غلام نبی خان چرخی وراره چې په هغه وخت کې شیرګلن وه په ۱۹۳۲کال خپل آکا سره یو ځای زندان کی واچول شو او ۱۵ کاله په هغه ځای کی پاتی شو. پخپل کتاب کی «از خاطراتم: یاد داشتهای حبس سیاسی از کودکی ام در افغانستان» د خپل هم اتاقی، فاروق جان تیلګرافی له خولي حقیقت پدی ډول نکل کوی:

«د خپل اکا غلام نبی خان چرخی تر شهادت وروسته هغوی شیرمحمدخان زړه ور او بهادر جنګیالی، د سقاؤ د

رژیم پر ضد د امان الله خان ملاتړی غلام جیلانی، د امان الله خان نائب السلطنه محمدولیخان دروازی، سر منشی میرزا محمدمهدی خان، خواجه هدایت الله او فقیرمحمد خان ټول یو ځای په بیرحمانه توګه په قتل ورسیدل. دغه ټول اعدامونه پرته له کومی جرمی څیړنی او محکمی سرته ورسیدل». (د انګلیسی نسخی ۴۸ مخ «از خاطراتم: یاد داشتهای حبس سیاسی از کودکی ام در افغانستان»)


همدا ډول غبار د استقلال او آزادی غوښتونکوو روڼ آندو د محاکمې بهیر ته د عیني شاهدانو او دا چی پخپله د صحنی ناظر وه پدی ډول اشاره کوی.

هغه د راجه مهند له قوله لیکی:

«که څه هم زه د یو بهرني شخص په توګه پدی مجلس کی اوریدونکی یم او د خبرو حق نلرم،خو سره لدی غواړم چی وپوهیږي محمد ولیخان د افغانستان ملی او نړیوالو سترو شخصیتونو څخه دی چی په بهرنیو هیوادونو کی ئی د افغانستان خپلواکی پیژندلو په هکله ډیر ارزښتناکه خدمتونه سر ته رسولی. باید تاسو د هغه د کړنو او رفتار په هکله خپل قضاوت کی ډیر احتیاط څخه کار واخلی او د هغه شخصیت پام کی وساتی، تر اوسه د ډیرو آزادۍ غوښتونکو (موخه ئی د هندوستان مبارزین وه) ډیر زیات تلګرافونه د دی شخصیت د ملاتړ لپاره رارسیدلی دی. (افغانستان در مسیر تاریخ دویم ټوک ۶۲ مخ)

همدا ډول د عبدالرحمن لودین د کابل ښار پخوانې بلدیه رئیس (ښاروال) د محاکمی د بهیر په هکله نکل کوی:


«په نړۍ کی تر دی بله د خندا وړ او شرموونکی محکمه لیدل شوی نده چی د محمد ولی خان په شان د یو شخص محکومولو لپاره د سقاؤ د ځوی په پلوې شاهدي ورکړل شی، چی ګواکې هغوی ټول د سقاؤ د ځوی دوستان او خدمتګاران دی. وایی چی له کیدړي پوښتنه وشوه چی د دعوی شاهد دي څوک دي؟ هغې ځواب کی خپله لکۍ وښوروله چی دغه زما شاهد دی» («افغانستان در مسیر




*د ولي خان دروازی هدیره، محمد ولیخان دروازی د ۴۲ کلنی په عمر د ۱۳۱۲ کال د وږی په ۲۴ نیټه یو شمیر مبارزو ملګرو سره یو ځای په دار وځړول شو او د تاریخ په زرینو پاڼو کی د یو ستوري په شان تل پاتی شو. پداسی حال کی چی د افغانستان دولت د جنایتکارانو هدیرې ښکلی سینګاروی خو د دغه ستر مبارز قبر چی د قول ابچکان په هدیره کی لکه د نورو سلګونو مبارزینو په شان په کنډواله حالت کی پاتی دی.*

تاریخ» دویم ټوک ۶۴مخ)
هغه ځوک چی په ریښتنې توګه خپل هیواد او خلکو ته وفادار وؤ او د یو سوکاله راتلونکی لپاره جنګیدلی وه د تاریخ په اوږدو کی د وښی تویوونکو دولتونو له خوا د خپلو بهرنیو بادارانو تر ملاتړ لانـدی په دار ځړیدلی، ترڅو د خاینو واکدارانو لپاره د چور او لوټمارې میدان برابر شی. خو په وړندو سترګو ئی کتلې، تر هغه چی استبداد او ظلم حاکم وی دروازیان، چرخیان، واصـفـان، جـویـیـان، عبدالخالقان، کمالان، لودینان، محمودیان، یـاری یان او په زرګونو نور ورک نومی به د خپلی غښتلی روحیی سره یو ځای د وخت له کاروان سره اوږه په اوږه جاویدانه ځلانده پاتی کیږی او هغه جلادان چی لاسونه ئی د مبارزینو په وینو سره دی، خپلو زرګونو جنایتونو سره به یو ځای د بی پایه کرکی او نفرت سره د تاریخ بی رحمه توری کندې ته اچول کیږی.

اعلامیی



# پر کنړ د پاکستان د دولت یرغل، د امریکا شیطاني دسیسه ده!



له کلونو راهیسې د افغانستان د ډولاډولو ستونزو ترڅنګ د پاکستان د پوځ توغندیز بریدونه چې په بنسټیزه توګه د ختیځ لور ولایتونو اوسیدونکي او په تیره بیا د کنړ بې دفاع وګړي ګوابني چې د سیمې خلکو ژوند او شتمني یې له خطر سره مخ کړې ده. د پاکستان ترهګر پالونکی دولت چې خپل شتون د سیمې په ګډوډۍ کې ویني، د خپل ارباب پر اشارې یې له خپل برید څخه تیری کړی او اوس د هوایي بریدونو دلارې غواړي د کنړ یو شمیر سیمې له استوګنې تشې او د ناپوه طالبانو د روزلو لپاره نوې جاله رامنځته کړي.

د کابل فاسد دولت چې د بهرنیو هیوادونو لاسپوڅو څخه رامنځته شوی، زموږ پر خلکو د پاکستاني رژیم د جنایت پروړاندې ننداره کوي

او زموږ د خاورې سرحدي سيمو د نيولو پروړاندې يې چوپتيا غوره کړې ده. اړګ ناستي چې د پاکستاني جنريلانو پروړاندې سرکوزي دی، د ځو غولونکو جملو په وړاندې کولو سره چې په سرحدونو کې يې ځواکونه تيارسۍ درولي دي، پدې وينا سره يې خپلې رسنۍ بوختې او پرځان يې پيټۍ سپک کړ.

د نوازشريف او د نورو شريکانو پر رهبرۍ د پاکستان ناوړه دولت د خپلو او د سيمې خلکو پروړاندې د پروني غلوونکي سياست ادامه ورکوونکي دي او سي. آی. ای او ام. آی. شپږ سره يوځای ګام پورته کوي. دغه ناوړه دولت د ايرانويني ځبنونکي رژيم په څير تل زموږ د ځپل شويو کډوالو له مجبوريتونو، بی برخی کول او ملا ماتيدونکي بيوزلۍ څخه د ابزار په توګه په افغانستان او سيمه کې د بنسټپالو ويروس د قوي کولو لپاره ګته اخلي. د پاکستان دولت کوښښ کوي چې د يو شمير افغان هيوادپلورو او د ګلبدين، ملاعمر، حقاني او نورو چټلو باندونو پرمټ بدمرغه افغانستان تر کلونو کلونو خپل سياسي، اقتصادي، کلتوري او آن تر نظامي محاصرې کې ولري. د پاکستان سياست چلوونکي اوسمهال هڅه کوي، څو په ټاکنو کې د جګړه مارانو ټيم د عبدالله په مشرۍ ګټونکی کړي، يو ځل بيا خپل پروني بې ځوکۍ چوپړان د نويمې تورې لسيزې په څير د واک پر ګدۍ کښينوي.

امريکايي تيری کوونکي د خپل نظامي شتون، افغانستان څخه په آسيا کې د مورچل په توګه کټه اخيستنه او دغه راز نورو دسيسو لپاره اړتيا لري چې د پاکستان د ځواکونو په مرستې سره چې په سيمه کې يې بالکی دی، هر ډول ګډوډي ته لمن ووهي او له دې ويجاړونکي اوور څخه ګټه پورته کړي. د امريکا له اشارې پرته د ده چوپړه دولت هيڅکله د دې جرئت نلري چې د افغانستان پرخاورې تيری وکړي او زموږ پر خلکو زرګونه توغندي ورواچوي. که چيرې د پاکستان توغنديز بريد د امريکا د سر خوځښت له ځان سره نه درلودی، نو سپني ماښۍ په افغانستان کې خپل نظامي پرمختللي تجهيزات چې ارزښت يې تر اوو ميلياردو ډالرو رسيده، د پاکستان پوځ ته نه ورکول.

څرنګه چې زموږ خلکو د امريکا او متحدينو تيری، لوټ، وژنه او د بشريت ضد نه هيريدونکي جنايتونه له ډير نيږدې څخه حس کړي دي، د افغانستان د ويجاړتوب شاوخوا څلورو لسيزو په لړ کې د پاکستان د

دولت د نه بخښني سلګونه جنايتونه، تيري، لاسوهنې او چوپړي، نه له ياده اوباسي او نه به يې وبخښي. موږ څو وارې ويلي او ټينګار مو کړی، ترڅو چې د چوپړه رژيمونو پرځای دموکراتيک او پرمختللي دولتونه واک ترلاسه نه کړي، د پولې دواړو اړخونو کې به امنيت او سوکالي رامنځته نشي.

د «افغانستان د همبستګۍ ګوند» د پاکستاني نظاميانو يرغل امريکايي پروژه ګڼي او خپل ملت سره په يو آواز د زور ښودنې دغه عمل په کلکه غندي او غږ کوي، ترڅو چې زموږ د ملت له سر څخه د امريکا سيوری ليرې نشي او ارګ او کابينه د آی. اس. آی او واواک له زنځيري غلامانو سُتره نشي، زموږ خاورې کې د پاکستان او ايران د جنايتونو او لاسوهنو مخه نه نيول کيږي.

زموږ هيواد څخه د امريکا، ناټو، پاکستان، ايران او نورو جنايت پالونکو دولتونو پر وينو ککړ لاسونه لنډيدونکي نه دي، مګر دا چې زموږ خلک يو بل ته په لاس ورکولو سره د دوی چوپړان او باړه اخيستونکي د محکمې ميز ترشا راکاږي او د خپلو کړنو سزا وويني، ځکه همدوی خپلو بهرنيو بادارانو ته د لاسوهنې، ويجاړتوب او لوټ زمينه چمتو کوي.

د «افغانستان د همبستګۍ ګوند» د پرمختللي او مترقي ډلې په توګه هوډ لري چې د امريکايي ښکيلاکګرو، متعصبو بنسټپالو او پلورل شويو روڼ اندو د خاينانه او د خلکو ضد سياستونو پروړاندې به ولاړ او د هغوی خيرې به بربنډوي او په دې لار کې هغو وګړو ته چې د هوساينې او دموکراسي لپاره د ويجاړونکو عواملو پروړاندې مبارزه کوي، د زړه له کومې لاس ورکوي او د آزاد او بسيا افغانستان لپاره د غوښ يووالي غوښتونکی دی.

**خپلو وينو سره د دې خاورې د هرې ټوټې ساتنه وکړو!**
**لنډ دې وي د مداخله‌کوونکو او د دوی د چوپړانو لاسونه!**

د افغانستان د همبستګۍ ګوند

۱۳ غبرګولي ۱۳۹۳ - ۳ جون ۲۰۱٤

همبستګي



پښتونګڼه ۲، وری ۱۳۹۴ - اپریل ۲۰۱۵



لیکوال: زیار احمد

# امریکایي تازیانو یو ځل بیا باډیلیان د ویر په ټغر کینول



د ۱۳۹۳ لمریز کال د وری میاشتی په ۱۸مه نیټه د کنړ ولایت اړوند د نرنګ ولسوالی پوری تړلی د باډیل درې ته امریکایی جنایتکارانو (C.P.T) او محلی پولیس په ګډه ننوتل تر څو په دغه سیمه کی د خپلو سیمه‌ایزو څارونکو په مرسته ددوی په وینا طالبان وځپی مګر د دیارلسو کالو تجربو دا په ډاګه کړی چی د امریکایی یرغلګرو د برید په پایله یواځی ځای او ملکی وګړي وژل کیږی او بس. د باډیل په دره کی هم دوی د شپی له خوا د صوبه غونډۍ محاصره کوی او سهار وختی طیارو ته امر کوی چی سیمه بمبار کړی. د دغه جنایتکارانه عمل په پایله کی ۱۶ تنه ولسی وګړي سخت ټپیان او ۱۳ تنه نور شهیدان کیږي چی نمونه یی په

لاندې ډول دي:

۱- تاجبرو د زړور خان لور - ۲۵ کلنه
۲- ظفرخان د عاصم خان زوی - ۶۰ کلن
۳- آسیا د زیار محمد زوی - ۱ کلن
۴- صفیه د زیار محمد لور - ۳ کلنه
۵- کشمیر د امیر خان زوی - ۲۰ کلن
۶- ذبیح‌الله د سید کلام زوی - ۲۰ کلن
۷- توحید د نور رحمن زوی - ۱۵ کلن
۸- روح‌الله د عجب خان زوی - ۴۲ کلن
۹- اسدالله د روح‌الله زوی - ۱۲ کلن
۱۰- رحیم‌الله د رحمت‌الله زوی - ۱۳ کلن
۱۱- سلمان د سرداری زوی - ۱۰ کلن
۱۲- علی ګل د شهزاد زوی - ۱۳ کلن
۱۳- حمیدالله د اسدالله زوی - ۹ کلن

د خواشینۍ خبره دا ده چې روح الله، اسدالله او رحیم الله د یوې کورنۍ غړي وو. همدا شان تاجبرو سره د دوه لوڼو او خسر ظفر خان هم د یوې کورنۍ غړي وو چې په شهادت ورسیدل مګر د تاجبرو خاوند زیار محمد خپله سخت ټپي دی. دوی د پاکستان د ملتان څخه ډیره موده بعد راغلي وه ترڅو د خپل مور او پلار سره وګوري، دوی همدغه سهار د تګ په حالت کې و



چې د طیارو د برید لاندې راغلل، نور خلک ددوی د غوښو او د بدن د غړو ټوټو په راغونډولو بوخت وو چې یوځل بیا تر برید لاندې ونیول شول او پورته دیارلس تنه په شهادت ورسیدل.

۲۰۱۴ کال د نوامبر لمړۍ نیټه: وروسته له دې چې آزادو او پرمخ تللو شخصیتونو له نوام چامسکی او دیسموندتوتو نړیوال د کوبانی جنګیالیو سره پیوستون او یووالی ته راوبلل، د «افغانستان د همبستګۍ ګوند» هم له دغې لړۍ سره یوځای شو او په اوه ولایتونو (بامیان، هرات، فراه، ننګرهار، بلخ، تخار او نیمروز) کې لاریونونه په لاره واچول. او ددې په څنګ کې د «افغانستان د همبستګۍ ګوند پلویانو په اروپا» کې هم د آلمان په برلین او هانوور او د هالند په زندام ښارونو کې له لاریون کونکو سره یوځای شوي وو.



باميان



بلخ



هرات



فراه


تخار



ننگرهار

**«د افغانستان د همبستګی ګوند» خپرونې تاسو کولي شی په کابل او ولایاتونو کې له لاندي پتو څخه تر لاسته کړئ:**

## کابل

**نمایندگی انجمن نویسندگان افغانستان**
جوار پارک تیمور شاهی

**شرکت کتاب شاه محمد**
چهارراهی صدارت

**کتاب فروشی مقدم**
مارکیت جوی شیر کابل

**انتشارات طیب روشن،**
کوته سنگی، مارکیت مینه یار،
مقابل کورس بهزاد

**کتابخانه وحدت**
نیاز بیک، دکان حاجی

**کتاب فروشی معلم محمد وحید**
د افغانستان آریانا مارکت، دکان اول

**کتاب فروشی رفیع الله**
پل باغ عمومی، لب سرک، زیر پشتنی بانک

**انتشارات تمدن شرق**
بین چهارراهی دهبوری و چوک کوته سنگی، مقابل لیسه رحمن بابا

## هرات

**کتاب و قرطاسیه فروشی عبدالجبار "یعقوبی"**
جکان غوند یازده،
مقابل مکتب متوسطه خلیل الله خلیلی

## بلخ

**کتاب فروشی عبدالغفور عرفانی**
**کتاب فروشی عبدالرازق انصاری**
مزار شریف، چهارراهی بیهقی،
پوسته خانه شهری

**کتاب فروشی فیروز**
مقابل نشنل بانک پاکستان

## غزنی

**کتاب و قرطاسیه فروشی توحید**
شهرک البیرونی، جاده خاتم الانبیا

**کتاب و قرطاسیه فروشی احمدی**
پلان سوم، کوچه زیارت خواجه علی

**کتاب فروشی فرهنگ ۱**
جوار کتابخانه عامه

**کتاب فروشی فرهنگ ۲**
سرک تانک تیل کهنه، رسته نجارها

## ننگرهار

**غرفه فروش اخبار و مجلات جمیل شیرزاد**
جلال آباد، چوک تلاشی،
مقابل گمرک کهنه

**کتابفروشی سیار**
ولسوالی خیوه

## کندز

**قرطاسیه فروشی محمد هارون**
جاده ولایت

## کنر

**کتابفروشی احمد ظاهر**
چغانسرای، سرک قومندانی

## تخار

**فوتوکاپی آمو، نجیب الله رحیمی**
تالقان، بندر بدخشان، مقابل فوائد عامه،
دکان نمبر ۱۰

## فراه

**کتابفروشی عزیزی**
واقع ناحیه سوم،
مقابل لیسه نفیسه توفیق میر زایی

# دردیدلو هیوادوالو،

کــه د خپلــواک، آزاد او دموکــرات افغانســتان غوښــتونکی یاست؛ که د افغانستان د سرلوړۍ او بې‌وزلو خلکو د هوساینې هیله په زړه کې لرئ؛ که غواړئ د نیواکګرو او د هغوی چوپړانو د جنایتونو او خیانتونو پر وړاندې خپله دنده ترسـره کړئ، نو د «افغانســتان د همبستګۍ ګوند» سره یوځای شئ او د خپل ګوند خپرونې په پراخه توګه د خلکو په منځ کې خپرې کړئ.

پته: پست بکس شمیره ۲۴۰، مرکزی پسته‌خونه
کابل ـ افغانستان

ګرځنده: 0093-700-231590
بریښنالیک: info@hambastagi.org
ویب‌پاڼه: www.hambastagi.org
فیسبوک: facebook.com/Afghanistan.Solidarity.Party
facebook.com/hambastagi
تویتر: twitter.com/solidarity22
یوټیوب: youtube.com/AfghanSolidarity

د «افغانســتان د همبستګۍ ګوند» د خپلو کړنو مخکې وړلو لپاره د غړو حق‌العضویت او د پلویانو مرســتو ته اړتیا لری. په خپلو نقدی مرستو له مونږ سره هم‌غږي شئ:

Azizi Bank
Koti-e-Sangi Branch, Kabul, Afghanistan
Name: Sayed Mahmood
Account No: 001903204644917

THE Voice of Solidarity
(HAMBASTAGI GHAG)

2
PASHTO
APRIL, 2015

A Monthly Publication of the Solidarity Party of Afghanistan

# کوباني؛
# د مبارزې، مقاومت او حماسې درس!

۱۶ پانه



قیمت: ۲۵ افغانی